بسم الله الرحمن الرحیم

ډالۍ

د یو منحوس فلم په واسطه د رسول الله ﷺ د توهین په ځواب کې د رسول الله ﷺ په صفاتو ، اخلاقو، سیرت او پېژندنه باندې مشتمله دا رساله ټول اسلامي امت ته په مینه او اخلاص سره ډالۍ کوم .

ډاکټر کفایت الله وردګ

پېژندنه، اخلاق او لنډ سيرت

ډاکټر کفايت الله وردګ

د کتاب په اړه

د کتاب نوم : محمد رسول الله (۲) پېژندنه ، اخلاق او لنډ سیرت

راټولونکی : ډاکټر کفایت الله وردګ

د کمپیوټر چارې : محمد نذیر ذبیح

د چاپ وار : لمړی

د چاپ شمېره : ۲۰۰۰ ټوکه

بیا کتنه : مولوي حسیب الله آخنزاده

خپرندویه اداره :

ZamZam Publication Company

زم زم خپرندویه ټولنه

Zamzam_publication@yahoo.com

00923009808094
00923009101098

Unit R 7 Alwajid Plaza, Faisalcolony Chawk, Dalazak road
Peshawar, KPK, Pakistan

مقدمه 1
د رسول الله ﷺ نسب 7
د رسول الله ﷺ شکل او صورت 8
د رسول الله ﷺ عالي اخلاق 11
سخا او کرم 22
شجاعت 24
عاجزي 25
د الله ﷻ نه ويره 27
په بدن کې ښه بوی 28
په ژوندانه کې نېک خوئي 29
په زړه کې رحمت 34
سليم عقل او تيز ذهن 38
عظمت او لويي 40
حياء 45
د خپل اهل سره رويه 48
په حيواناتو ترحم 50
د ګاونډيانو سره ښه رويه 51

رسول الله ﷺ یو مکمل انسان..........51
د غیر مسلمو اعترافونه 59
د رسول الله ﷺ نسب..........66
د رسول الله ﷺ والد عبد الله..........70
د رسو ل الله ﷺ تولد 71
د محمد نوم وربانديِ کيښودل..........74
د رسول الله ﷺ رضاعت 76
حليميِ بيِ ته حواله کيدل..........77
شق الصدر 80
بېرته مکيِ ته راتلل 81
د شام لور ته لمړی سفر 84
د حضرت خديجيِ (رض) د مال سره سفر..........85
د حضرت خديجيِ (رض) سره واده 87
د رسول الله ﷺ نوريِ بيبيانيِ..........89
د رسو ل الله ﷺ اولاد 97
د رسول الله ﷺ ترونه 101
د رسول الله ﷺ عمه ګانيِ 106
هغه غلامان چيِ رسول الله ﷺ ازاد کړي وو
(موالي) 110
د رسول الله ﷺ خادمان..........113

د رسوالله ﷺ وینزې........................115
د رسول الله ﷺ موذنان........................116
د رسول الله ﷺ لیکوالان........................116
د رسول الله ﷺ استازي........................118
د رسول الله ﷺ آسونه........................122
د رسول الله ﷺ سلاح........................128
درسول الله ﷺ حج او عمرې........................130
د رسول الله ﷺ غزاګانې........................132
د رسول الله ﷺ یو څو معجزې........................133
له تولد نه تر پیغمبرې پورې........................149
د بعثت شروع........................152
د بعثت څلورم کال........................152
د بعثت پنځم کال........................153
د بعثت شپږم کال........................153
د بعثت اوم کال........................153
د بعثت لسم کال........................155
د بعثت یولسم کال........................155
د بعثت دولسم کال........................156
د بعثت دیارلسم کال........................157
د هجرت لمړی کال........................158

د هجرت دوهم کال.......160
د هجرت دریم کال.......163
د هجرت څلورم کال.......164
د هجرت پنځم کال.......167
د هجرت شپږم کال.......171
د هجرت اوم کال.......173
د هجرت آتم کال.......175
د هجرت نهم کال.......179
د هجرت لسم کال.......181
د هجرت یولسم کال.......183
ماخذونه.......203

مقدمه

زړه مې غواړي چې د مشکو او عنبرو نه رنګ جوړ کړم او دهغه چا نوم ورباندې ولیکم چې پدې رساله کې تاسې ته دهغه په اړه معلومات درکوم زه هغه رحمت یادوم چې ۱٤۰۰ کاله وړاندې یې دنیا ته رڼایي راوړه او تیاره دنیا یې ورباندې روښانه کړه او دده په راتګ سره د پیغمبرانو لړۍ پای ته ورسېده الله تعالی په قران کریم کې ورته فرمایلي دي چې ته ما دنیا ته صرف رحمت لېږلی یې او د چا چې د قران په حقانیت باندې ایمان دی نو پدې یې هم یقین دی چې رسول الله ﷺ په رښتوني ډول د دنیا لپاره رحمت دی دا کتاب زه پداسې وخت کې ترتیب کوم چې د رسول الله ﷺ د اهانت لپاره څو ګستاخو

، لعنتیانو د توهین نه ډک بدمرغه فلم خپور کړی دی او هرې خواته مسلمانان خپل جذبات او غصه ښکاره کوي زما په نظر که پداسې حالت کې مسلمانان هرڅومره غصه ښکاره کړي بیا هم کمه ده ځینې مسلمانان سړکونو ته را وزي خپله غصه ښکاره کوي ، ځینې یې د ګستاخه خلکو څیرو او بیرغونو ته اورونه اچوي ، ځینې یې د انټرنیټ او خپلو ویب سایټونو له لارې په ګستاخو باندې خپل لعنت ور لیږي ، او ځینې یې په خپلو چغو سره د خپل حکومت نه غواړي چې د ګستاخو سره تعلقات ختم کړي...، زه ددې ټولو مسلمانانو د جذباتو قدر کوم خو په ذاتي ډول ما دا ښه وګڼله چې ددې توهین ځواب زه پدې سره وکوم چې د

شپې به خوب نه کوم او د ورځې به هم تکليف تېر کړم او د رسول الله ♈ په ژوند به يوه داسې رساله وليکم چې په حجم کې وړوکې لکن په علم کې لويه وي او پدې رساله کې به زه کوښښ کوم چې ډېره توجه د رسول الله ☸ صفاتو او پاکو خويونو ته ورکړم نو د همدې کوښښ په نتيجه کې داده رساله اوس ستاسې په لاس کې ده الله تعالی د وکړي چې ستاسې لپاره د فايدې وړ وګرځي او ددې نا څيز کوښښ ثواب زه د رسول الله ♈ مبارک روح ته په ډېره عاجزۍ او مينه سره ډالۍ کوم .

ډاکټر کفايت الله وردګ

E-mail: phdwardak@gmail.com

ټول د انصاف لرونکي ليکوالان او د تاريخ ماهرين پدې متفق دي که په نوع انساني کې يو عظيم ترين شخصيت موجود وي نو هغه محمد ﷺ دی په نوع بشر کې دده نه کامل او اکمل انسان بل نشته دا وجه ده چې مونږ ټول مسلمانان دهغه په پيغمبري باندې ايمان لرو، دهغه قدر کوو، دهغه مينه په زړه کې ګرځوو او هماغه ذات زمونږ رښتونی لارښود دی او دقيامت په ورځ به هغه زمونږ شفاعت کوي دا هغه هستي وه چې ټوله دنيا يو طرف ته وه او صرف دی بل طرف ته لکن الله تعالی

يې په خپل نصرت سره مرسته وکوله او د ټولې دنیا په مقابل کې یې کامیابي ور په برخه کړه په زمکه باندې بل داسې بشر نه دی پیدا شوی لکه رسول الله ﷺ چې خپله ټوله زندګي یې د بشریت په رښتوني خدمت کې تېره کړه الله ① هغه پداسې توګه پیدا کړی وو چې د دنیا او آخرت نعمتونه یې ورکړي وو الله تعالی ① ده ﷺ ته ښائسته شکل، سلیم عقل، ځېرکتیا، تېز فهم، خوږه ژبه ، قوي بدن، لوړ خویونه ، سنګین طبیعت ، تواضع، حلم، حیاء، صبر، زهد ، تقوی، دیانت، امانت داري، شجاعت، ځوانمردي، رعب، هیبت، پاکي، رحمت او داسې نور نېک خویونه ورکړي وو چې زه یې پدې وړوکې رساله کې نشم را ټولولی

خو زه يې يو څو عالي صفتونه ستاسې په وړاندې د مثال په ډول ابېږدم .

د رسول الله ﷺ نسب

چې مونږ د رسول الله ﷺ د نسب په اړه خبره كوو نو د شريف نسب خاوند وو سلسله د نسب يې حضرت اسمعيل ؑ بن حضرت ابراهيم ؑ ته رسيږي په ټوله سلسله كې يې د شرافت خاوند پلرونه او د عفت خاونداني ميندې دي چې لږ وروسته به يې ټوله سلسله تاسې ته وړاندې كړم په قريشو كې پيدا شوى دى او قريش هغه قبيله وه چې په ټولو عربو كې يې په شرافت كې خاص نوم درلود بيا په قريشو كې هغه كسان چې د رسول الله ﷺ په نيكونو كې راغلي دي ټول مشران او د خاصې مرتبې لرونكې خلك دي تر عبد المطلب پورې د مسلم په روايت كې حضرت واثلة بن اسقع فرمايي ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چې هغه ويل الله ① بني كنانة د

اسمعیل ؑ په اولاده کې غوره کړل او بیا یې قریش د کنانة په اولاد کې غوره کړل بیا یې بني هاشم په قریشو کې غوره کړل او زه یې بیا په بني هاشم کې غوره کړم .

د رسول الله ﷺ شکل او صورت

د رسول الله ﷺ د شکل او صورت او دهغه د ښائست په اړه زیات احادیث راغلي دي او په هغه حدیثونو کې درسول الله ﷺ شکل او صورت داسې تعریف کوي .
د ښه رنګ خاوند وو انتهایي ښه ښکاره کېدو ، سپین رنګ یې وو چې سوروالی پکې وو، مخ یې ځلاند وو، تندی یې فراخ وو ، انګې یې نرم وو، غاښونه یې تک سپین وو چې خبرې به یې کولې داسې به ښکاره کېدو لکه د خولې نه یې چې نور خپرېږي ، حضرت ابو هریره ؓ فرمایي ما د رسول الله ﷺ نه ښائسته

ځیز په خپل ژوند کې نه دی لیدلی داسې ښکاره کېدو لکه په مخ کې یې چې لمر وي ، ګڼ شمېر صحابه وو فرمایي د رسول الله ﷺ مخ به داسې ځلا کوله لکه سپوږمۍ یې چې د پنځلسم په شپه کوي ، په قد کې نه ډېر ټیټ وو او نه ډېر لوړ وو ، تورې سترګې یې وې ، برابر تور وېښته یې وو ، ګڼه ږیره یې وه ، د ږیرې سره به یې چې غاړه ښکاره کېده لکه سپین زر داسې ځلېده ، پاک بدن یې وو په سینه او ګېډه مبارکه یې وېښتان نه وو ، کله به چې تللو داسې قدمونه به یې پورته کول لکه د پورته ځای نه چې را ښکته کیږي ، کله به چې خولې شو هغ خولې به یې لکه ملغلرې داسې ښکاره کېدلې ، د خولې بوی یې لکه د مشکو داسې وو ،

حضرت علي 8 چې د رسول الله صفتونه کول ویل یې داسې انسان ما نه وروسته ولیدو او نه مې مخکې لیدلی وو،

د اوږو په مینځ کې یې د نبوت مهر وو، چا به چې یو دم ولیدو نو تر تاثیر لاندې به یې راتلو او چې خبرې به یې ورسره وکولې نو مینه به یې ورسره پیدا شوه ، حضرت براء بن عازب 8 فرمایي رسول الله ☸ بشکلی بدن درلود د اوږو په مینځ کې یې فاصله وه ، هر وخت یې دومره ویښتان پریښودل چې تر اوږو پورې یې رسېدل ما دده د ښائست نه زیات ښائست چېرته نه وو لیدلی ، ځلاند رنګ یې وو، د مخ ځلا یې لکه د سپوږمې داسې وه، فراخ تندی یې وو حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایي زما پلار (ابو بکر صدیق

8) فرمایل که حضرت یوسف ؑ ته نیم حسن ورکړل شوی وو زمونږ رسول الله ﷺ ته پوره ښائست ورکړل شوی دی .

د رسول الله ﷺ عالي اخلاق

چې څومره نیک صفات او عالي اخلاق دي دا ټول په رسول الله ﷺ کې موجود وو پدې اړه باندې ګواه د قران کریم دا آیت کافي دی چې الله ﷻ ده ته فرمایي **وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ** بېشکه ته په لویو اخلاقو باندې جوړ یې رسول الله ﷺ دخپلو اخلاقو په اړه فرمایي : الله ﷻ ما ته ادب راکړو او ښه ادب یې راکړو او کله چې د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه د رسول الله ﷺ د اخلاقو په اړه پوښتنه وشوه هغې وویل د رسول الله ﷺ

اخلاق قران وو همدارنګه حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ د اخلاقو په اړه فرمايي رسول الله ﷺ فاحش نه وو او نه يې فحش خوښولو او د بدو بدله يې په بده سره نه ورکوله بلکه بښنه يې کوله رسول الله ﷺ بالکل هم خپل بدل له چا څخه نه وه اخستې او کله هم نه غصه کېدو مګر چې کله به د الله په حدونو باندې تجاوز وشو بيا به ډېر زيات غصه کېدو.

څومره به چې ده ته تکليف رسېدلو ده ﷺ به پرې همدومره صبر کولو او يو څوک به چې له ده سره څومره په جهالت مخامخ کېدل ده به همدومره ورسره نرمي کوله او هر وخت به يې ويل (اللهم اهد قومي فانهم لا يعلمون) ای الله زما قوم ته هدايت وکوه دوی نه

پوهېږي او د مکي مکرمې د فتح په ورځ يې ټولو هغه کسانو ته چې دده سره يې ډول ډول ظلمونه کړي وو او اوس مجبور او محصور خلک وو رسول الله ﷺ ورته و فرمايل (اذهبوا فانتم الطلقاء) ځئ لاړشئ تاسي ازاد ياست .

کله چې د حضرت زيد بن سعية 7 د اسلام وخت شو د رسول الله ﷺ په اړه يې پلټنه کوله او د نبوت ټولي نښي يې پکي پيدا کړي او دی وايي چې صرف يوه نښه ما پکي پيدا نه کړه چې څوک دده سره څومره جهالت کوي دی ﷺ ورسره همدومره نرمي کوي او دا مي هم تجربه کول غوښتل ورته راغلم ورته مي وويل چې په ما باندي څه معلومه مېوه و پلوري او دهغي قيمت مي ورته اداء

کړو چې اتیا مثقاله سره زر کېدل چې کله د میوې وخت را نیږدې شو زه په ده پسې ورغلم دی ﷺ په جنازه کې د صحابه وو سره وو زه پسې ورغلم تر کالیو او څادر نه مې را ونیولو او په غصه کې مې ورته وکتل او په غصه کې مې ورته وویل : ته زما حق نه راکوې؟ زما د قسم ستاسې د عبد المطلب د کورنۍ نه خو ما بغیر د ځنډ کولو نه بل شی ونه لیدل ... کله مې چې په دې وخت کې د حضرت عمر ❼ **مخ ته وکتل سترګې یې د غصې نه ګډېدلې او ماته یې بد بد وکتل او راته یې وویل ای دالله دښمنه ته رسول الله ﷺ ته داسې وایې او دده سره داسې کوې؟ که زه دده ﷺ څخه نه ډارېدلی اوس به مې ستا سر په توره وهلی وو ... رسول الله**

❁ په مينه مينه او اطمنان سره حضرت عمر ❼ ته کتل ورته يې وويل : زه او دی بل شي ته ضرورت لرو ته بايد ماته ووايې چې ده ته په خپل وخت دده حق ورکړم او ته بايد ده ته ووايې چې په ښه توګه حق وغواړي او په ښه توګه يې قبول کړي بيا يې عمر ❼ ته وويل ورشه ده ته يې حق ورکړه او شل پيمانې ور پسې زياتې ورکړه زه د حضرت عمر ❼ سره لاړم هغه زما حق راکړو بيا يې شل پيمانې ور پسې زياتې هم راکړې بيا يې رانه پوښتنه وکوله چې تا داسې بې ادبي ولې وکوله؟ ما ورته وويل ای عمره ما د پيغمبري نښې ټولې په رسول الله ﷺ کې وليدې صرف دا مې کتل غوښتل که څوک دده سره په جهل باندې مخامخ کيږي

دی څنګه ورسره په نرمۍ سره مخامخ کیږي او اوس زه تا پدې باندې ګواه کوم چې زه مسلمان یم پدې خوښ یم چې الله ② مې رب ، اسلام مې دین او محمد ♈ مې نبي دی او تا پدې باندې هم ګواه کوم چې زما نیم مال د محمد ♈ په امت باندې صدقه دی .

حضرت زید بن سعیة بیا ښه مجاهد صحابي وو په تبوک کې شهید شو.

د حضرت انس بن مالک ❼ څخه روایت دی چې فرمایي یو وخت د تنعیم د غره نه څنو کسانو چې اویا د بل قول له مخې اتیا کسان وو د سحر د مانځه په وخت کې په رسول الله ♈ او صحابه وو باندې حمله وکوله او غوښتل یې چې

دوی قتل کړي صحابه وربانديډ بريالي شول او هغوی يې ټول ژوندي ونيول رسول الله ﷺ هغه ټول معاف کړل او خوشې يې کړل بيا په همدې اړوند باندې آيت نازل شو .

سورة فتح آية ٢٤

وَهُوَ ٱلَّذِى كَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ عَنْهُم بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنۢ بَعْدِ أَنْ أَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا ﴿٢٤﴾

ترجمه : الله هماغه ذات دی چې د هغوی لاس يې ستاسې نه ونيولو او ستاسې لاس يې د هغوی نه ونيولو د مکې په مينځ

کې وروسته ددې چې تاسې يې په هغوی باندې بريالي کړئ الله تعالی د هغه څه ليدونکی دی چې تاسې يې کوئ.

حضرت صفية بنت حيی رضی الله تعالی عنها فرمايي ما د رسول الله ♈ څخه د ښو خويونو لرونکی شخص نه دی ليدلی

حضرت عبد الله بن عمر ❼ فرمايي رسول الله ♈ فاحش نه وو او نه يې فحاشي خوښوله (صحيح بخاري) .

حضرت انس بن مالک ❼ فرمايي کله به چې څوک د رسول الله ♈ سره مخامخ شول او هغه ته به يې لاس ورکړو ترڅو به چې هغه کس خپل لاس دده د لاس څخه نه وو لرې کړی ده ♈ به لاس ترېنه نه لرې کولو او چې کله به يې چاته کتل

ترځو به چې هغه بل کس خپل مخ بلې خوا ته ترېنه نه وو اړولی ده ♈ به ترېنه نه اړولو (ابو داود)

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي رسول الله ♈ به هروخت دعا کوله ويل به يې ای الله ځرنګه دې چې زما جوړښت ښکلی کړی دی زما خويونه هم ښکلي کړه .

رسول الله ♈ فرمايي په تاسې کې غوره کسان هغه دي چې خويونه يې ښکلي وي .

حضرت ابو هريره ❻ فرمايي رسول الله ♈ به د بدو خويونو څخه پناه غوښته او ويل به يې ای الله زه په تا باندې پناه غواړم د بد بختۍ نه ، د نفاق نه او د بدو خويونو څخه (ابو داود) .

كله چې د رسول الله ﷺ نه وغوښتل شول چې د مشركينو په حق كې دې ښېرا وكوي نو ده ﷺ ورته وويل زه په خلكو باندې لعنت لېږونكى نه يم را لېږل شوى بلكه زه د خلكو لپاره رحمت را لېږل شوى يم (صحيح مسلم)

حضرت انس بن مالك رضي الله عنه فرمايي زه د رسول الله ﷺ سره روان وم چې ده ﷺ يمانى څادر آغوستى وو چې سختې ژۍ يې وې يو بانډه چې ور پسې راغلو تر څادر يې را ونيولو او ځان ته يې را كش كړو ما د رسول الله ﷺ په غاړه كې دهغه څادر د ژۍ نښه ولېده چې جوړه شوه بيا يې ورته وويل اى محمده! امر وكوه چې ماته دالله د هغه مال نه

څه راکړي چې لتا سره دی رسول الله ﷺ ورته وکتل او ورته ویې خندل بیا یې امر وکړو چې څه شی ورکړئ .

حضرت انس بن مالک ؓ فرمایي رسول الله ﷺ ډیر د ښو خویونو مالک وو یوه ورځ یې زه چیرته ولیږلم زه چې بهر ته ووتلم ما څه ماشومان ولیدل چې لوبې یې کولې زه هم له هغوی سره لګیا شوم تردې چې رسول الله ﷺ راپسې راغلو او زه یې تر څټ (ورمیږ) ونیولم ما چې ورته وکتل ده ﷺ راته خندل او راته یې ویل ته چې ما چیرته لیږلی وې هلته لاړې؟

حضرت انس بن مالک ؓ فرمایي زه د

رسول الله ﷺ سره وم چې یو اعرابي پسې راغلو او تر څادر یې داسې په زور سره را کش کړو چې دڅادر د سختې ژی نښه د رسول الله ﷺ په غاړه مبارکه کې جوړه شوه چې رسو ل الله ﷺ ورته وکتل هغه کوچي ورته وویل : ماته راکړه دوه اوښان د الله د مال نه ته خو یې څه د خپل پلار د مال نه یا د خپل مال څخه نه راکوې د الله د مال نه یې راکړه رسول الله ﷺ ورته غلی شو بیا یې ورته وویل مال د الله دی او زه دهغه بنده یم بیا یې حکم وفرمایلو چې دی څه غواړي ور یې کړئ .

سخا او کرم

ترکومه ځای چې په تاریخ کې د سخا او ځوانمردي خبره ده په رسول الله ﷺ کې

چې ڎومره وه په بل بشر کې نده موجوده شوی حضرت جابر ❽ فرمايي د رسول الله ☸ نه داسې څه نه دي غوښتل شوي چې ده يې په ځواب کې نه ويلي وي .

حضرت عبد الله بن عباس ❽ فرمايي رسول الله ☸ ډېر زيات سخي وو او په رمضان کې به لا زيات سخي وو .

د مسلم د روايت له مخې حضرت انس ❽ فرمايي د رسول الله ☸ نه به د کوم شي سوال کېدلو نو ده ☸ به ورکول .

شجاعت

د شجاعت په میدان کې رسول الله ﷺ تر هرچا وړاندې وو او په داسې ځای کې به حاضر وو چې زړور خلک به هلته ډارېدل او دی به داسې په استقامت سره ولاړ وو چې په شا تلل يې بالکل نه وو متعدد صحابه رضي الله عنهم فرمايي د بدر په غزوة کې رسول الله ﷺ ډېر زيات په غصه ښکاره کېدو او په هرځای کې به دښمن ته له مونږ نه دی ور نېږدې وو ، د بدر په غزوة کې د مسلمانانو غازيانو حملې په کفارو باندې هغه وخت ډېرې تيزې شوې چې رسول الله ﷺ په جنګ را شريک شو .

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمايي ما د رسول الله ﷺ نه

زړور کس نه دی لیدلی .

عاجزي

حضرت عبد الله بن عمر ❽ فرمایي رسول الله ﷺ په یوه پوزي باندې ډډه وهلې وه چې پاڅېدو دهغه پوزي نقش یې په بدن مبارک کې جوړ شوی وو ما په هغه نقشونو باندې لاس را تېرولو او ورته ومې ویل یو فرش درته جوړ نه کړو چې ته پرې ویده کېږي او هغه به لږ نرم وي ؟ ده ﷺ وویل زما د دنیا سره څه کار دی ، زه او دنیا سره څه یو زه په دنیا کې داسې یم لکه یو مسافر چې دخپل سفر په لاره کې تر کومه ونه لاندې دمه کوي او د لږ ساعت د مې نه وروسته بېرته د ونې نه روان شي او ونه پرېږدي .

د رسول الله ﷺ په کور کې یوه او دوه میاشتې هم داسې تېرېدلې چې ددوی په کور کې به اور نه بلېدلو او ژوند به یې په اوبو او خورما سره کولو .

او کله چې رسول الله ﷺ وفات شو یوه زغره یې لا تراوسه د یو یهودي سره په ګاڼه کې ایښې وه چې رسول الله ﷺ قرض تربنه اخستی وو په ګاڼه کې یې زغره ورته کېښودې وه او تر وفات پورې یې دهغه قرض ورکول په وس پوره نه شول .

د الله ① نه ویره

په رسول الله ﷺ کې د الله ① نه ویره دومره غالبه وه لکه څومره چې ده الله تعالی ① پېژندلو رسول الله ﷺ پدې اړه پخپله فرمايي : زه الله ستاسې نه ډېر ښه پېژنم او زه د الله ① نه زيات ډارېدونکی يم .

همدارنګه رسول الله ﷺ فرمايل : که تاسې په هغه څه باندې خبر شئ چې زه پرې خبر يم نو تاسې به لږ خندل او ډېر به مو ژړل زه هغه څه وينم چې تاسې نه وينئ او هغه څه آورم چې تاسې يې نه آورئ . حضرت مغيرة بن شعبة ❽ فرمايي رسول الله ﷺ به په مانځه کې تر دومره اوږده وخت پورې

دربېدلو چې قدمونه مبارک يې و پړسېدل ورته وويل شول : اى رسول الله ﷺ ته داسې ولې کوې الله ① خو تاته هرڅه معاف کړي دي؟ ده ﷺ ورته وويل آيا زه دهغه کسانو له جملې څخه نه شم چې هغوى شکر وباسي .

په بدن کې ښه بوى

رسول الله ﷺ په پيدائشي ډول باندې يې د بدن مبارک نه د ښو عطرو بوى پورته کېدلو امام مسلم د حضرت انس ⑧ نه روايت کوي چې هغه فرمايي : ما تر اوسه پورې مشک او عنبر نه دي بوى کړي چې د رسول الله ﷺ نه يې ښه بوى وي .

حضرت جابر بن سمرة ⑧ فرمايي : رسول الله ﷺ زما په مخ باندې لاس ولګولو خو

دده د لاس داسې ښه بوی پورته کېدلو لکه د عطار د بکس نه يې چې را ويستلی وي .

رسول الله ﷺ به چې د چا سره په لاس ستړي مشي وکړه نو ټوله ورځ به دهغه د لاس نه ښه بوی تللو د کوم ماشوم په سر به يې چې لاس را کش کړو هغه به د نورو ماشومانو په مينځ کې په ښه بوی سره معلومېدلو (د سر نه به يې ښکلی بوی خپرېدلو) .

په ژوندانه کې نېک خوئي

رسول الله ﷺ په ژوند کې ډېر نېک خويه وو فراخه سينه يې وه د ملګرو او صحابه وو په مينځ کې به چې ناست وو هميشه به مسکی وو نه به يې د چا عيب ويلو او نه به يې د چا غيبت

کولو لدې امله خو الله تعالی ورته فرمايي : د الله په رحم سره ته دوی ته نرم يې که چېرته ته غصه ناک وی او د سخت زړه مالک وی نو دوی به لتا څخه خپاره شوي وو .
هرچا به چې دی وغوښتلو ده به يې دعوت منلو ، د هرچا تحفه به يې قبلوله .

رسول الله ﷺ فرمايي په تاسې کې د پوره ايمان خاوندان هغه دي چې اخلاق يې ښه وي او په تاسې کې ښه خلک هغه دي چې د خپلو ښځو لپاره ښه وي (صحيح الترمذي) .

د حضرت ابن ابي اوفی ؓ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ ددېنه کبر نه کولو چې

د کونډې، غریب او یا غلام سره لاړ شي او دهغه څه ډول حاجت ورته پوره کړي .

حضرت انس 8 فرمایي رسول ا لله ☸ به چې په وړو ماشومانو باندې هم تېرېدلو په هغوی به یې سلام اچولو .

حضرت سهل بن حنیف 8 فرمایي رسول الله ☸ به د ضعیفو مسلمانانو د پوښتنې او ملاقات لپاره تلو او دهغوی سره به یې په جنازه کې شرکت کاوه .

المحب الطبري ذکر کړي دي رسول الله ☸ په یوه سفر کې د خپلو صحابه وو سره روان وو صحابه وو ته یې امر وکولو چې یو پسه تیاروو .

یو کس را پورته شوو ویل یې حلالول یې په ما شول .
بل را پورته شو ویل یې د پوستکي نه ویستل یې په ما.
بل ویل پخول یې په ما .
رسول ﷲ ﷺ وویل د لرګیو را ټولول په ما .
صحابه وو ؓ ورته وویل ای رسول ﷲ ﷺ د تا برخه کار به مونږ وکوو ده ﷺ ورته وویل زه پوهېږم چې زما کار به تاسې وکوئ لکن زه نه غواړم چې زما او ستاسې د فرق وي .

حضرت انس بن مالک ؓ فرمایي رسول ﷲ ﷺ به که چا صرف خورما ته دعوت کړو نو هم ورتلو او که به یې داسې غوړیو ته دعوت کړو چې ټینګ به وو او

د ډېر وخت له امله به يې بوی کولو بيا يې هم د چا دعوت نه ځواب کولو .
رسول الله ﷺ به دخپلو ملګرو سره ټوکې هم کولې ، دهغوی سره به يې مجلس کولو، د ماشومانو سره به يې لوبې کولې ، دهغوی سره ئې مينه کوله، ماشومان به يې په خپله غېږه کې کېنول، د غلام، وينزې او هر ډول غريب دعوت به يې هم منلو ، که په کومه خبره کې به چا ورته عذر ويلو دهغه عذر به يې منلو، هروخت به يې په مجلس کې په خوله باندې مسکا وه ترڅو به يې چې وعظ نه کولو او يا به د وحی د نازلېدلو وخت نه وو ، حضرت عبد الله بن حارث ﵁ فرمايي ما د رسول الله ﷺ نه زيات تبسم کونکي څوک نه دي ليدلي .

په زړه کې رحمت

الله ① دده په قران کريم کې هم دده دا نېک صفت بيان کړی دی چې په مومنانو باندې مهربان دی .

رسول الله ﷺ فرمايي څوک چې د يتيم ساتنه کوي هغه به په جنت کې لما سره داسې وي (دوه ګوتې يې سرېښ سره ونيولې) .

رسول الله ﷺ فرمايي څوک چې وينزه لري هغې ته ښه ادب ور وښيي بيا يې ازاده کړي او په نکاح يې کړي الله ① به هغه ته دوه اجرونه ورکوي .

حضرت ابو ذر ❽ فرمايي رسول الله ﷺ د

غلامانو په اړه مونږ ته فرمایل : دوی ستاسې ورونه دي الله ① ستاسې تر لاسونو لاندې کړي دي څه چې تاسې خورئ دوی ته یې هم ورکوئ ، څه چې تاسې آغوندئ دوی ته یې هم ورکوئ ، داسې کار مه ورته حواله کوئ چې هغوی یې نشي کولی او که مو ورته حواله کولو بیا ورسره مرسته کوئ .

حضرت ابو هریره ❽ فرمایي : رسول الله ﷺ فرمایل کله چې تاسې ته ستاسې کوم خادم خوراک تیار کړو او ستاسې په مخ کې یې کېښودو پداسې حال کې چې دپخلي ګرمي او لوګي هغه برداشت کړي وي نو هغه دې هم کیني لتاسې سره یې د وخوري .

حضرت ابو بکر صدیق 8 فرمايي رسول الله ﷺ ويل څوک چې د هغه خلکو سره بده رويه وکوي چې تر ده شکته وي هغه به جنت ته نه ننوزي (ترمذي ، ابن ماجه)

رسول الله ﷺ به امر کولو چې د خپلو غلامانو سره لکه د خپلو زامنو داسې رويه کوئ رسول الله ﷺ چې د مرګ په بستره پروت وو نصيحت يې کولو چې د غلامانو او وينزو سره ښه رويه کوئ .

غورث بن الحارث درسول الله ﷺ د قتل اراده يې کړې وه ناکام شو رسول الله ﷺ ونيولو او معاف يې کړو بېرته يې خوشې کړو خپل قوم ته چې راغلو ويل

يې زه د داسې چا نه راغلم چې تر ټولو خلکو غوره کس دی .

يو کس نوی ځوان يهودي وو د رسول الله ﷺ خدمت به يې کولو کله چې بيمار شو رسول الله ﷺ يې پوښتنې ته ورغلو هلته يې ده ته دعوت ورکړو چې اسلام قبول کړي هغه هلک يې خپل پلار ته وکتل پلار يې ورته وويل چې د ابي القاسم (محمد) ﷺ خبره ومنه هغه اسلام قبول کړو رسول الله ﷺ ډېر زيات خوشحال شو ويل يې حمد او ثنا ده هغه ذات لره چې دی يې د اور نه خلاص کړو .

حضرت ابو بکر صديق ❽ فرمايي رسول الله ﷺ په عامو خلکو ډېر زيات مهربان

وو ویل به یې څوک چې امامت کوي نو سپک مونځ دې کوي (لنډ تلاوت دې پکې کوي) ځکه په دی کې ضعیف ، مریض او ضرورت مند کس به ولاړ وي او کله چې یوازې مونځ کوي نو دومره یې دې اوږد کړي چې خوښه یې وي .

رسول الله ﷺ هغه کسانو ته چې د خلکو کوم کار یې په لاس کې وي فرمایل : په خلکو اساني راولئ سختي وربانديې مه راولئ ، په خلکو کې الفت پیدا کړئ نفرت پکې مه پیدا کوئ

سلیم عقل او تیز ذهن

رسول الله ﷺ سلیم عقل، تیز ذهن درلود او ښې پوهې خاوند وو هره فیصله به یې چې کوله د فیصلې په ټولو اړخونو

باندې ډېر ښه پوهېدو د لوی کار لپاره به يې ډېر په ځيرکتيا سره اقدام کولو په کومه طريقه باندې چې ده خلکو ته د اسلامي شريعت تعليم ورکولو ، په کومه طريقه سره چې ده يو نوی ډول حکومت جوړ کړو او دهغه سياست يې په مخ بيولو، په کومه طريقه سره چې ده دخلکو امامت کولو ، په کومه طريقه سره چې ده دخلکو په مينځ کې په لويو او وړو مسائلو کې قضاوت کولو بغير ددېنه چې کتاب ورته وګوري، بغير ددېنه چې مطالعه او تياری ورته کوي .... هره ثانيه او د هغه وخت هره دقيقه د ستاينې وړ ده .

پدې ځای کې که به زه دده ☸ هغه فيصله را ياده کړم چې ده تر بعثت

وړاندې هغه وخت وکوله کله چې د قریشو ټول مشران د څلورو ورځو لپاره پدې نه جوړېدل چې د کعبې د تعمیر په وخت به حجر اسود څوک په خپل ځای ایږدي کله چې رسول الله ﷺ ته دا فیصله پاتې شوه ډېر زر یې په داسې توګه ورته حل کړه چې د هیچا اعتراض هم ورباندې پاتې نه شو هغه دا چې حجر اسود به په یوه څادر ډوله رخت کې کېږدو او د قریشو ټول مشران به راشي دهغه څادر طرفونه به ونیسي او حجر اسود به هغه ځای ته نقل کړو .

عظمت او لویي

حضرت حسین بن فضل د رسول الله ﷺ د عظمت په اړه فرمایي : رسول الله ﷺ

يوازينى داسې نبي دى چې الله تعالى ورته خپل دوه نومونه پخپله وركړي دي الله تعالى د خپل ځان په اړه فرمايي :
سورة حج آية ٦٥

إِنَّ ٱللَّهَ بِٱلنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾

او بيا د رسول الله ﷺ په اړه فرمايي :

بِٱلْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢٨﴾

حضرت جبير بن مطعم ❽ فرمايي : رسول الله ﷺ فرمايل :
زما څه نومونه دي زه احمد يم، زه محمد يم ، زه ماحي يم چې ا لله ① په ما باندې كفر محو كړو ، زه حاشر يم چې خلك مې په خپل قدم سره را ټول

کړل، زه عاقب يم چې ترما وروسته بل پيغمبر نه راځي.

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمايي څه کسان ناست وو او درسول الله ﷺ د راوتلو انتظار يې کولو ورته را ووتلو تردې چې ورته را نيږدې شو وا يې وريدل چې دوی خبرې کولې ځينو پکې وويل :

عجيبه ده الله ﷻ په خپل مخلوق کې ځان ته خليل نيولی دی ابراهيم ؑ يې خليل نيولی دی بل وويل دا ډيره عجيبه ده چې موسی ؑ د الله ﷻ سره خبرې کړې دي هغه کليم الله دی بل وويل عيسی کلمة الله و روح منه دی بل وويل آدم صفی الله دی پدې وخت کې رسول الله ﷺ ورته راغلو په دوی يې سلام واچولو بيا يې ورته وويل ستاسې خبرې او ستاسې تعجب

ما واورېدو الله ① ابراهيم خپل دوست
نيولى دى هو همداسې ده، موسى نجى الله
دى هو همداسې ده، عيسى روح الله دى
هو! همداسې ده ، آدم صفى الله دى هو!
همداسې ده خبر دار زه حبيب الله يم او
فخر پرې نه کوم او د قيامت په ورځ
به اول شفاعت زه کوم فخر پرې نه کوم
د قيامت په ورځ به اول زه د جنت د
دروازې دروازه ټکوم الله ① به يې
راته خلاصوي زه به ور ننوزم د
مسلمانانو غريبان به راسر وي فخر
پرې نه کوم .

الله ① رسول الله ﷺ ته فرمايي :
و رفعنا لک ذکرک : ما ستا ياد
پورته کړى دى ددې آيت په تفسير کې
امام يحيى بن آدم فرمايي يعنې په

نبوت سره ، او چا ویلي مطلب یې دادی چې‌رته چې الله یاد شي پیغمبر به هلته ورسره یادیږي په لا اله الا الله محمد رسول الله کې او د یو قول له مخې په اذان کې .

الله ① په قرآن کریم کې د رسول الله ﷺ په عمر باندې قسم خوري او دا صراحتاً د رسول الله قدر کول دي الله تعالی فرمایي لعمرک (زما د ستا په عُمر باندې قسم وي)

الله تعالی ① رسول الله ﷺ ته فرمایي ..

الم نشرح لک صدرک

آیا ما ستا سینه درته فراخه نه کړه؟

او حضرت موسی ⧗ پخپله د الله ① نه غواړي او وایي :

رب اشرح لي صدري

ای الله زما سینه راته فراخه کړه .

الله ① رسول الله ☸ ته فرمایي :

فانما یسرناه بلسانک

بېشکه مونږ ستا په ژبه باندې هغه (قرآن) اسان کړو .

حضرت موسی ⌛ د الله ① نه سوال کوي :

و یسر لي امري

زما کار راته اسان کړه .

نو ددېنه د الله تعالی په وړاندې د رسول الله ☸ لوړه مرتبه ښکاره کیږي .

حیاء

رسول الله ☸ ډېر زیات حیا لرونکی وو د بي بي زینب په واده کې څه خلک د خوراک نه وروسته ناست وو خبرې یې کولې د رسول الله ☸ همدا یوه کوټه وه

رسول الله ﷺ تـرې تـنګ شوی وو لـکن بـیـا یـې هم دوی تـه نـشـوای ویـلی چې تـاسې پـاڅېږئ تـردې چې آیـت نـازل شو پـکې ویـل شوي وو کـلـه چې تـاسې خوراک وکـوئ نـو تـاسې لاړ شئ ستـاسې کېـنـاستـل دلـتـه نـبـي ﷺ تـه ضـررنـاک دي هـغـه ستـاسې نـه حیـاء کـوي او الله ① تـاسې تـه د حق ویـلـو نـه حیـاء نـه کـوي .

حضرت ا بـو سعیـد خدري ❽ فـرمـایـي رسول الله ﷺ ډېـر زیـات حیـانـاک وو کـلـه بـه چې کـوم شی پـه ده ﷺ بـد ولـېـګـدل مـونـږ تـه بـه ده د مخ مـبـارک نـه ښکـاره کـېـده (ده بـه ویـل نـه)

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي کله به چې رسول الله ﷺ ته د چا له خولې نه څه نا مناسبه خبره را ورسېده نو رسول الله ﷺ به هغه کس ته داسې نه وې چې تا داسې ولې ويلي دي بلکه ويل به يې دا ځينې خلک داسې ولې وايي داسې خبرې ولې کوي؟

د خپل اهل سره رویه

رسول الله ﷺ فرمايي په تاسې کې ښه کس هغه دی څوک چې د خپل اهل لپاره ښه وي او په تاسې ټولو کې زه د خپل اهل لپاره ښه يم هغه څوک چې خپلو ښځو ته عزت ورکوي هغه د عزت خاوند کس وي او هغه څوک چې د خپلو ښځو اهانت کوي هغه ذليل کس وي .

وروسته ددې چې حضرت خديجة رضى الله تعالى عنها وفات شوه رسول الله ﷺ به څاروی حلال کړو او په هغه ښځو به يې تقسيم کړو چې د حضرت خديجې رضى الله تعالى عنها ملګرې وې پدې سره يې د مرګ نه وروسته دهغې سره خپله مينه ښکاره کوله .

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي کله به چې رسول الله ﷺ د خپلو بيبيانو سره تنها شو ډېر زيات د نرم طبيعت لرونکی انسان به وو خندل به يې او مسکی به وو .

رسول الله ﷺ خپل زنګون حضرت صفية رضی الله تعالی عنها ته کېښودو هغې مبارکې وربانديې پښه کېښوده او اوښ ته وختله (صحيح البخاري) .

رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې د ډېر اجر لرونکی کار دادی چې په خپل اهل باندې څوک مصرف وکوي (رواه مسلم) .

د حضرت اسود 8 نه روايت دی ما د

عائشې رضی الله تعالی عنها نه پوښتنه وکوله رسول الله به په کور کې څه کول؟ دې رضی الله تعالی عنها وویل هغه به دکور په څه کار کې لګیا وو کله به چې د مانځه وخت شو اودس به يې وکولو او مانځه ته به ووتلو.

په حيواناتو ترحم

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها د رسول الله ﷺ د ترحم په اړوند وايي چې ده ﷺ به د پیشو لپاره لوښی صفا کولو چې هغه ترینه اوبه و څښي .

د ګاونډيانو سره ښه رويه

رسول الله ﷺ ابي ذر رضي الله عنه ته فرماي اى اباذر کله دې چې شوربا پخوله اوبه پکې لږ زياتې اچوه او ګاونډيانو ته يې ترې ورکوه .

رسول الله ﷺ فرمايي څوک چې په الله او دهغه په رسول باندې ايمان لري نو خپل ګاونډي ته دې ضرر نه رسوي .

رسول الله ﷺ يو مکمل انسان

رسول الله ﷺ په ټول ژوندکې دروغ نه دي ويلي ، کله يې هم له چا سره

کړی تعهد نه دی مات کړی، په ټول ژوند کې يې وعده خلافي نه ده کړې، په ټول ژوند کې يې د درواغو ګواهي نه ده ورکړې، په ټوله مکه کې د دوستانو او دښمنانو په مینځ کې په صادق او امین سره مشهور وو، د هرقسم عیب نه الله ② پاک ساتلی وو، د لوی زړه خاوند وو سره ددې چې قریشو دده سره هر قسم تېری کړی وو خو چې دی ﷺ کله مکې مکرمې ته راغلو ټول يې معاف کړل، د طائف په حادثه کې جبرائیل ⧗ ورته راغلو ورته ویل يې حکم وکړه چې د غرونو ملائکې ته ووايم چې غرونه پرې واړوي او دا ټول خلک هلاک کړي ده ﷺ ورته ویل نه دوی نه پوهېږي کېدای شي ددوی په نسل کې داسې خلک راشي چې هغوی مسلمانان وي، ټوله

شپه به مشرکينو ده ته او دده ملګرو ته د ضرر رسولو لپاره لارې لټولې لکن ده ♈ به الله ② ته لاسونه غزولي وو دده لپاره به يې د الله ② نه هدايت غوښتو .

حضرت علي ❻ فرمايي : رسول الله ♈ د ډېر لوی زړه خاوند وو او زيات زړور وو او کله به چې د څه مصيبت اواز شو نو مونږ به چې ورغلو نو هلته به د رسول الله ♈ سره مخامخ کېدلو ، د سخاوت مثال يې نه درلود کله هم داسې نه وو شوي چې چا ورڅخه کوم شی غوښتی وي او ده ورته انکار کړی وي ، د زيات حلم خاوند وو نرم زړه يې درلود، د حياء نه ډک وو ، کله هم د ځان لپاره نه غصه کېدو او نه يې خپل

بدل له چا څخه اخستلو ، ترڅو به چې د الله ۞ په حرماتو باندې تېرى نه وو شوى دى ♈ نه غصه کېدو او که د الله ۞ په حرماتو باندې به تېرى وشو داسې به غصه کېدو چې هېچا يې غصه نه شواى نرمولاى ، ټول عمر يې دخلکو په مينځ کې په برابره توګه باندې فيصله کوله کله يې هم داسې فيصله نه وه کړې چې د يو طرف حق پکې تلف شوى وي .

کوم خوراک به يې چې مخې ته کېښودل شو کله يې هم دهغه بد نه وو ويلي که يې خوښه وه نو خوراک به يې ترې کولو او که به يې زړه نه غوښتل نو خوراک به يې نه ترېنه کولو، د تکيې په حالت کې يې خوراک نه کولو، په ميز

باندې يې خوراک نه دی کړی ، کوم شيان چې خوراک يې روا دی رسول الله ♈ ترې مخ نه اړولو که خورما به په لاس ورغله نو خوړله يې او که به ډوډۍ په لاس ورغله نو خوړله يې او ډوډۍ به که د غنمو او که د وربشو وه نو خوړله يې او که کله به نور څه شی پيدا نه شول نو صرف په شودو باندې يې هم کفايت کولو، حلواء او شهد يې ډير خوښ وو، خواږه شی به چې يخ وو د رسول الله ♈ ډير خوښېدل، هروخت يې د خپل ځان په ځای د بل چا د مړولو کوښښ کاوه حضرت ابو هريره ❻ فرما يې رسول الله ♈ له دنيا نه لاړو لکن تر آخره پورې د وربشې په ډوډۍ هم موړ نه شو .

تحفه به يې خوړله او خيرات يې نه

خوړلو، کله به يې چې خوراک او يا
جامه کول غوښتل نو ددې کوښښ يې نه
کولو چې بايد بهترين پيدا کړي بلکه
د ګذارې تر حد پورې يې پيدا کول څه
به يې چې پيدا کړل خوړل يې او څه به
يې چې پيدا کړل آغوستل يې، خپلې پڼې
مبارکې او يا جامې به يې چې وشکېدلې
نو پخپله يې ګنډلې ، د تکليف په وخت
کې يې په مزدورې باندې هم کار کولو
ده ♈ **ويل هر نبي چې دنيا ته راغلی
دی هغه ميږې څرولې دي صحابه** 📖
ترينه پوښتنه وکوله چې تا هم؟ ده ♈
**ورته وويل هو ! ما په مکه کې ميږې
څرولې او د مکې د خلکو نه مې
وربانديې پيسې اخستې**، د مسکينانو سره
يې ډيره مينه کوله دهغوی جنازو ته
به ورتللو، د هغوی د بيمارانو

پوښتنه به يې کوله ، د هېڅ فقير اهانت او سپکاوی يې نه کولو او د هېڅ باداشاه عزت يې دده د باداشاهي له امله نه وو کړی ، په آس ، اوښ ، خره او قچره باندې سپرېدو او شا ته به يې پسې غلام يا بل څوک ورسره کېنول ، څوک يې نه پرېښودل چې په ده پسې د شا نه لاړ شي ويل به يې زما شا ملائکو ته پرېږدئ ، د وړيو جامې به يې آغوستلې ، په ټولو جامو کې يې الحبرة جامه خوښه وه دا يماني جامه وه چې سور او سپين رنګونه پکې کارول شوي وو ، د سپينو زرو ګوتمه يې لرله چې مهر يې پکې وو د ښي لاس په خنصره (د وړو کې ګوتې نه را دوهمه ګوته) يې په ګوته کوله کله به يې په چپ لاس کې هم په همدې ګوته په ګوته کوله ،

سره ددې چې الله ② د زمکې او اسمان کلیانې دده په لاس کې ورکړې وې لکن ډېر وخت داسې کېدل چې د لوږې له امله به یې په ګېډه پورې تېږې تړلې لکن د دنیا هوسا ژوند یې نه خوښولو ، ذکر به یې زیات کولو، بې ځایه خبرې یې نه کولې، مونځ به یې اوږد کولو او خطبه به یې لنډه ویله ، سره ددې چې د ژوند مشکلات یې زیات وو لکن اکثر وخت به یې مسکا په خوله وه ، عطر یې خوښېدل ، د بد بوی نه ئې سخت نفرت وو ، کوم شی به چې نا روا نه وو منع به یې ترې نه کوله، ټوکې به یې کولې لکن رښتیا خبره به یې کوله ، کله به یې چې وینځې او غلامان وو د هغوی نه به یې ځان په جامو کې پورته نه ګڼلو، د خپلو خادمانو سره

يې يو ډول خوراک کولو ، په داسې کار کې يې وخت نه تېرولو چې په هغه کې به د الله ② رضا مطلب نه وه، په داسې کار کې به لګيا کېدو چې ده ته او يا به يې اهل ته ضروري وو،

حضرت انس ❻ فرمايي ما د رسول الله ♈ لس کاله خدمت وکولو په لسو کلونو کې يې د کوم کار په اړه راته ونه ويل چې ولې دې وکولو؟ او نه يې د داسې کار په اړه راته وويل چې ما نه وو کړی ولې دې نه دی کړی؟

د غير مسلمو اعترافونه

ډېر داسې کسان هم شته چې هغوی د اسلام د نعمت نه محروم وو لکن په علم تاريخ کې يې مطالعه او مهارت وو

هغوی هم پدې پوه وو چې محمد ﷺ په
دنیا کې یوازینی هغه کس تېر شوی دی
چې د کامل انسانیت یوه نمونه وه
ځینو یې پکې اعتراف هم کړی دی چې
مثالونو ته یې ستاسې فام را اړوم .
یو انګریزي مشهور لیکوال مایکل هارټ
په خپل کتاب

A RANKING OF THE MOST INFLUENTIAL PERSONS IN HISTORY

(د سلو ډېرو مهمو او موثرو کسانو
درجه بندي کول) کې حضرت محمد ﷺ د
ټولو په سر کې راوړی دی او په دې
کتاب کې ده په سلو کسانو بحث کړی دی
چې ده ته ډېر مهم ښکاره کیږي نو دده
له نظره هم رسول الله ﷺ تر اوسه پورې
په تاریخ کې تر ټولو غوره کس تېر
شوی دی .

او بیا د همدي کتاب په ۳۳ مخ کې لیکي :

"My choice of Muhammad to lead the list of the world's most influential persons may surprise some readers and may be questioned by others, but he was the only man in history who was supremely successful on both the religious and secular level."

ترجمه : دا چې ما محمد د هغه کسانو په لست کې تر ټولو وړاندې راوړی دی چې زیات مهم او موثر خلک وو کیدای شي د ځینې لوستونکو لپاره د تعجب وړ وګرځي او د ځینو لپاره کیدای شي ددې په اړه پوښتنه پیدا شي لکن هغه یوازینی داسې انسان وو چې په دیني او دنیوي سطح باندې کامیابۍ ته رسېدلی وو .

Lamartine يوبل مشهور فرانسوي ليكوال دى هغه په خپل كتاب HISTOIRE DE LA TURQUIE (د تركيې تاريخ (دا نوم فرانسوي دى) په دوهم جلد په مخ ٢٧٦ كې ليكي :

"Philosopher, orator, apostle, legislator, warrior, conqueror of ideas, restorer of rational dogmas, of a cult without images; the founder of twenty terrestrial empires and of one spiritual empire, that is Muhammad. As regards all standards by which human greatness may be measured, we may well ask, is there any man greater than he?"

ترجمه : يو فيلسوف، يو خطيب، يو رسول، يو شرع جوړونكى، يو نظامي ، د فكرونو فاتح، د نيكو عقيدو جوړونكى ، بغير د تصويرونو د عبادت نه ، د شلو زمكنيو امپراطوريانو او يوې

واحدې روحاني امپراطوري جوړونکی کس دا محمد وو چې د انسانیت په ټولو هغه معیارونو باندې برابر وو چې په انسان کې ممکن دي ، مونږ کولی شو پوښتنه وکړو چې ترته له ده نه ښه انسان شته (په تاریخ کې) ؟

یو بل مشهور لیکوال William Muir لیکي :

Mohammad brought an end to idol worship. He preached Monotheism and infinite Mercy of God, human brotherhood, care of the orphan, emancipation of slaves, forbidding of wine. No religion achieved as much success as Islam did.

ترجمه : محمد د بتانو عبادت پای ته ورسولو هغه د الله له لوري نه نصیحت او بې انتها رحمت راوړو ، هغه انساني

ورور ګلوي راوړه ، د يتيم پالنه ، دغلامانو ازادي ، د شرابو څخه منع يو مذهب هم دومره کاميابۍ ته نه دی رسېدلی لکه اسلام چې رسېدلی دی .

مشهور ليکوال Johann Goethe ليکي :

The message of Muhammad is flowing toward its noble destination like a pure, fresh and transparent rivulet.

ترجمه : د محمد پيغام اوس هم د خپل هدف خوا ته داسې روان دی لکه خالصه وياله چې تازه او پاکه شفافه وي .

داسې نور ډېر غير مسلم لکن انصاف لرونکي ليکوالان دي چې هغوی په تاريخ کې تجربه لري هغوی ته دا ثابته ده چې رسول الله ﷺ په دنيا کې د کامل انسانيت نمونه وه .

محمد رسول الله والذين معه أشداء على الكفار رحماء بينهم

نسب رسول الله ﷺ د

محمد بن عبد الله (آمنة بنت وهب الزهرية القرشية) بن عبد المطلب (فاطمة بنت عمرو المخزومية القرشية) بن هاشم (سلمى بنت عمرو النجارية الخزرجية) بن عبد مناف (عاتكة بنت مرة السلمية) بن قصي (حبى بنت حليل الخزاعية) بن كلاب (فاطمة بنت سعد) بن مرة (هند بنت سرير) بن كعب (وحشية بنت شيبان) بن لؤي (مارية بنت كعب ـــ أم كعب) ابن غالب (سلمى بنت عمرو الخزاعي ـــ أم لؤي) ابن فهر ـــ وهو قريش ـــ (ليلى بنت سعد ـــ أم غالب) ابن مالك (جندلة بنت الحرث) ابن النضر (عاتكة بنت عدوان) ابن كنانة (برة بنت مر بن إد) ابن

خزيمة (عوانة بنت سعد) ابن مدركة
(سلمى بنت أسلم) ابن الياس (
حندف) ابن مضر (الرباب بنت جندة)
ابن نزار (سودة بنت عك) ابن معد
(معانة بنت جوشم) ابن عدنان بن
ادُد بن ال مقوم بن ناحور بن تيرح
بن يعرُب بن يشجُب بن نابت بن
حضرت إسماعيل بن حضرت إبراهيم
عليهما السلام بن تارح (آذر (د يو
قول له مخي)) بن ناحور بن سارع بن
را عو بن فالخ بن عَيبر بن شالخ بن
ارفخشد بن سام بن حضرت نوح عليه
السلام بن لمک بن مُتوشلخُ بن اخنوخ
(د يو قول له مخي دا حضرت ادريس ⌛
دى) بن يرده بن مهليل بن قينن بن
يانش بن شيث ⌛ بن آدم ⌛ د نسب دا
سلسله تر آدم ⌛ پوري امام محمد بن

اسحاق په خپل کتاب (سيرة اسحاق) کې په اول او دوهم مخ کې ذکر کړېده خو دا تر نوموړ شوي عدنان (چې شلم نيکه او يويشتم پلار دی) پورې صحيح ده هېڅ اختلاف پکې نشته او دهغه نه وروسته بيا اختلافونه پکې دي خو پدې باندې اتفاق دی چې د رسول الله ﷺ د نسب سلسله تر حضرت اسمعيل ؑ پورې رسيږي

قريش لقب د ابن فهر بن مالک او د يو قول له مخې د النضر بن کنانة وو
.

د رسول الله ﷺ مور مبارکه آمنة بنت وهب بن عبد مناف بن زهرة بن کلاب بن مرة بن کعب بن **لؤی** بن غالب وه او د رسول الله ﷺ د پلار د لوري سره يې نسب په عبد مناف کې يو ځای کيږي

د رسول الله ﷺ والد عبد الله

کله چې عبد الله بن عبد المطلب په خپل عمر کې پنځه ویشت کلنی (د یو قول له مخې آتلس کلنی) ته ورسېدو نو پلار یې امنه بنت وهب ورته په نکاح کړه د واده نه لږ وخت وروسته عبد الله د شام په تجارت باندې روان شو مدینې ته چې ورسېدو هلته بېمار شو او بیماري یې اوږده شوه تر یوې میاشتې پورې هلته بېمار پروت وو او بیا په حق ورسېدو او همالته په مدینه منوره کې د النابغة په ځای کې دفن کړل شو (او النابغة د بني عبد النجار د قبیلې یو کس وو) پدې وخت کې د یو قول له مخې رسول الله

❁ لا د مور په ګېډه کې وو او د پلار نه يې پنځه اوښان ، يوڅه رمه او يوه حبشۍ وينزه (برکة ام ايمن) پاتې شول .

د رسول الله ❁ تولد

رسول الله ❁ په مکه مکرمه کې د ابو طالب په کور کې و زېږېدلو د تولد په وخت کې قابله ورته الشفاء (د عبد الرحمن ابن عوف ❽ مور) ناسته وه او دا ورځ د عام الفيل د ربيع الاول د مياشتې دولسمه او د يو قول له مخې آتمه او د دوشنبې ورځ وه چې د شلم يا دوه ويشتم د اپريل کال ۵۷۱ سره يې سمون خوړلو .

علامه ابن عبد البر په خپل کتاب

الاستيعاب في معرفة الاصحاب كې ليکي :
کله چې رسول الله ﷺ پيدا شو هغه په قدرتي ډول سره سنت وو او نو يې هم تيار پرې شوى وو .
رسول الله ﷺ چې پيدا شو مخ يې قبلې ته کړو او د لاسونو مبارکې ګوتې يې سره ټولې را نيولې وې صرف سبابه ګوته يې لکه د شهادت پورته نيولې وه مور يې ويل چې ما د حمل په وخت کې هغه دروند والى محسوس نه کړو چې کومې عامې ښځې محسوس کوي او نه مې د تولد په وخت کې هغه درد محسوس کړو کوم چې عامې مورانې محسوس کوي .
د حضرت عثمان ابن ابي العاص 8 مور وايي کله چې رسول الله ﷺ پيدا شو زه يې کور ته ورغلم هغه کور له رڼا نه ډک وو او هرې خوا ته نور وو او

ستوري داسې ښكاره كېدل لكه هغه چې
زمكې ته را غورځيږي .

د محمد نوم وربانديې کېښودل

کله يې چې د پيدائښت زيرى په نيکه باندې وشو هغه ډېر زيات خوشحال شو او وائې خيستو او حرم ته يې د ځان سره يوړو او هلته يې د الله ① شکريه اداء کړه او ويې ويل (ليکونن لابني هذا شان) دا بچى به مې د يوې مرتبې خاوند کيږي (ددې بچي نه به مې يو ځوک جوړيږي) او بيا يې محمد نوم وربانديې کېښودو او د رسول الله ☸ نه وړانديې صرف په دريو کسانو بانديې دا نوم کېښودل شوى وو هغه هم ددې امله چې د هغه پلرونو اورېدلي وو چې يو کس د محمد په نوم به پيدا کيږي او هغه به په حجاز کې وي دوى په خپلو

ماشومانو د محمد نوم کېښودو دوی به امید کولو چې کیدای شي هغه دی زمونږ زوی وي .

په سیرة ابن هشام کې د حضرت حسان ابن ثابت 8 نه په روایت سره لیکلي هغه 8 فرمایي زه په هغه وخت کې د اووه یا آتو کلونو وم او زما په یاد دي چې یو یهودي را ووتلو په یثرب کې ئې چغې کړې چې ای یهودو .... خلک ورته را ټول شول :ولې څه خبره ده ؟ ده وویل چې د محمد هلک (چې په تورات کې یې تاسې ذکر کتلی وو) ستوری پورته شو ښکاري چې هغه نن شپه پیدا شو او دا هماغه شپه وه چې په کومه باندې رسول الله ﷺ پیدا شو .

د رسول الله ﷺ رضاعت

اوله هفته ورته خپلې مور شودې ورکړې بیا ثوبیة چې د ابو لهب ازاده کړل شوې وینزه وه هغې ورته شودې ورکولې چې د هغې هم ماشوم پیدا شوی وو مسرح نوم یې وو او د یوه روایت له مخې ثوبیة ددېنه وړاندې حضرت حمزه ❽ ته او حضرت ابو سلمة المخزومي ته هم شودې ورکړې وې .

د عربو عادت وو کوښښ به یې کولو چې د نوي پیدا شوي ماشوم لپاره د ژوند سهولت په کلي او بانډه کې پیدا کړي او هلته داسې کورنۍ ورته پیدا کړي چې دده پالنه وکوي د بني سعد بني بکر قبیلې نه ښځې راغلې وې او د داسې ماشومانو لټون یې کولو چې دوی

يې له ځان سره بوزي او د عوض په بدل کې يې پالنه وکوي نورو ښځو ماشومان پيدا کړل .

حليمې بي بي ته حواله کېدل

محمد ﷺ د نېکبختې ښځې حليمې په نصيب شو سره له دې چې په اول کې ورته خوشحاله نه وه ځکه محمد ﷺ يتيم ماشوم وو چا هم فکر نه کاوه چې دوی به پالونکې ښځې ته ښې پيسې ورکړي خو بيا هم حليمې بي بي واخستلو او دا يې له ځان سره بوتلو چې د خپل زوی عبد الله سره ده ته هم پالنه او شودې ورکړي او ددې خاوند حارث بن عبد العزی وو او دهغه دوه لوڼې وې يوه انيسة او بله حذافة

وه چې لقب يې شيماء وه او دا هغه بي بي وه چې د رسول الله ﷺ په پالنه کې به يې د خپلې مور سره مرسته کوله د تاريخ د علماوو د رواياتو له مخې چېرته چې د حليمې بي بي کور وو دا ځاى پدې وخت کې تر قحطۍ لاندې وو او هر خوا وچ کالي وه لکن چې کله محمد ﷺ ددوى کور ته راغلو نو ددې کور هرخوا ته تازه شو او د مېږو په غولانځو کې شودې را پيدا شوې او هرې خوا ته تازګي شوه حليمه بي بي هم ډېره زياته ورته خوشحاله وه او په ډېره مينه به يې پالنه کوله او پدې پوهېده چې زمونږ په کور باندې د برکاتو باران صرف د همدې ماشوم له مخې نه دى په پوره توجه سره يې ساتلو او کله ئې مکې مکرمې ته

د ځان سره راوستلو چې مور یې وویني چې کله دوه کلونه پوره شول نو یې مورته راوستلو ددې لپاره چې د یوڅه وخت لپاره یې نور هم ددوی سره پرېږدي له یوې خوا حضرت حلیمې بې بې په رسول الله ﷺ کې خاص برکت لیدلی وو او د بلې خوا نه په مکه مکرمه کې یو ډول وبا وه دوی غوښتل چې محمد ﷺ د یو څه وخت نور لپاره هم د مکې مکرمې نه بهر په بانډه کې پاتې شي نو مور بې بې یې هم دا خبره خوښه کړه او د دوو کلونو څخه یې وروسته هم د حلیمې بې بې سره پرېښود رسول الله ﷺ خپله د ماشوم توب دوره دلته شروع کړه، په مبارکو قدمونو یې تلل شروع کړل، د وړوکو ماشومانو سره یې لوبې شروع کړې یوه ورځ چې ده له

ماشومانو سره لوبې کولې چې دوه سپين کالي سړي ورته راغلل او دی ﷺ يې راونيولو او نورو ماشومانو يې مور حليمې بي بي ته ور منډه کړه چې محمد قتل کړل شو ... هغه قتل نه شو بلکه دهغه (شق الصدر) وشو .

شق الصدر

ملائکې ورته راغلې دی يې را ونيولو او د زړه ساحه يې ور څيرې کړه او زړه يې ترې را وويستلو حضرت جبرائيل ؑ ترينه يوه توره ټوټه لرې کړه او ويې فرمايل : دا پکې د شيطان حصه ده بيا يې زړه د زمزم په اوبو باندې د سرو زرو په طشت کې ووينځلو او بېرته يې په خپل ځای کې کېښودو ماشومانو حليمې بي بي ته را منډه کړه ويل يې

: محمد قتل کړل شو حلیمه بي بي په منډه منډه ورغله چې ویې کتل د محمد ﷺ رنګ بدل وو او نور حالت یې ښه وو حضرت انس بن مالک ؓ فرمایي چې د رسول الله ﷺ په سینه مبارکه کې ددې څېرېدلو اثر ما ولیدو د تاریخونو په کتابونو کې دې واقعې ته (شق الصدر) وایي .

بېرته مکې ته راتلل

کله چې دا واقعه مینځ ته راغله نو حلیمه بي بي وډاره شوه او دی یې خپلې مور ته را وستلو کله چې دی د شپږو کلونو وو نو مور یې له ځان سره بوتلو د ماماګانو کور ته د ماماګانو کور یې په یثرب (مدینه) کې وو دوی هلته لاړل او یوه میاشت یې هلته تېره

کړه له هغې خوانه چې بېرته را ستانه شول نو مور يې په لاره کې بيماره شوه په ابواء نومي ځای کې وفات شوه او همالته دفن کړل شوه حضرت بريدة ﷺ فرمايي يوه ورځ مونږ د رسول الله ﷺ سره په سفر روان وو چې په ابواء نومي ځای کې رسول الله ﷺ د يو قبر سره کېناستو خلک هم ورسره کېناستل رسول الله ﷺ يوه لحظه غلی وو بيا يې سر و ښوراوه او سخت يې وژړل حضرت عمر ﷺ پوښتنه ترې وکوله ولې ژاړې؟ ده ﷺ ورته وويل (دا قبر د آمنة بنت وهب دی
د مور د وفات نه وروسته يې ساتنه ام ايمن کوله (ذکر يې مخکې تېر شوی دی) او د نيکه عبد المطلب سره يې ژوند

کولو عبد المطلب په ده باندې ډېر زيات ځکه مهربان وو چې هغه ته ښکارېده چې دا ماشوم ډېر دردېدلی دی مخکې له پيدائښت نه يې پلار رحلت کړی وو او اوس چې ايله د شپږو کلونو دی نو له مور نه هم پاتې شو نو ځکه يې ورسره ډېره زياته مينه کوله او دده په وړاندې تر ټولو زامنو او لمسيانو مخکې وو يو فرش وو چې صرف عبد المطلب به ورباندې کېناستلو بل هېچا ته په هغه فرش باندې د کېناستلو اجازه نه وه يوه ورځ چې محمد ﷺ ورباندې ناست وو نورو ماشومانو يې لرې کول غوښتل عبد المطلب ورته ويل دی پرېږدئ دا د خاص شان مالک دی.

شپې تېرېدلې چې په معصوم ماشوم

باندې نوی درد راغلو هغه دا چې کله د آتو کلونو شو نو نيکه يې عبد المطلب هم له دنيا نه رحلت وکړو بيا يې ساتنه تره ابو طالب کوله .
څرنګه چې ابو طالب هم مالدار سړی نه وو نو رسول الله ﷺ به مال څرولو او پدې طريقه سره به يې په اقتصادي لحاظ له خپل تره سره مرسته کوله او يو وخت يې د صحابه وو ﷺ په مينځ کې ويل : هر نبي چې راغلی دی مېږې يې څرولې دي .. دوی ورته وويل تا هم ؟ ده ﷺ ورته وويل هو ما هم څرولې دي او قراريط (د درهم او دينار برخې) مې د مکې له خلکو نه وربانډې اخيستې دي .

د شام لور ته لمړی سفر

کله چې د دولسو کلونو شو نو د خپل تره سره شام ته د تجارت په سفر باندې لاړو په بصره کې یو یهودي عالم چې بحیرا نومیدو ولیدو او په ځیر ځیر یې رسول الله ﷺ ته کتل بیا یې ابو طالب ته وویل چې دا خپل وراره دې کور ته بوزه او ساتنه یې وکوه په ده کې څه داسې نښې دي چې هغه زمونږ سره په تورات کې ښکاره دي که یهودو ولیدو او هغه څه چې زه یې ستا په وراره کې وینم که دوی ولیدل نو د ضد له وجې به یې درنه قتل کړي د ستا د وراره نه په راتلونکي وخت کې لوی شخصیت جوړیږي .

د حضرت خدیجې (رض) د مال سره سفر

حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها مالداره ښځه وه او خاوند یې له مخکې نه مړ شوی وو نو د رسول الله ﷺ په اړه یې ښې خبرې اوریدې دهغه د امانت او پاکې خبرې یې زړه ته ننوتلې وې دده ﷺ نه ئې وغوښتل که ددې د مال سره شام ته د تجارت لپاره لاړ شي نو دا به ورته تر هغه څه ډیر ورکړي چې نور خلک یې ده ته ورکوي نو رسول الله ﷺ هم دا غوښتنه ومنله او د خدیجې رضی الله تعالی عنها د یو غلام میسرة سره ملګری د شام په سفر لاړو په بصره کې یې د یوه راهب نسطورا د عبادتګاه په خوا کې تر یوه ونه لاندې دمه وکوله هغه راهب میسرة غلام ته وویل : تردې ونه لاندې چې څوک هم دمه کوي

هغه نبي وي میسرة به لیدل کله به چې ګرمي زیاته شوه نو ددوی په سر باندې به وریځ راتله چې په دوی به یې سیوری کولو او له دوی سره به روان وو د تجارت ددې سفر نه چې بېرته مکې ته را ستانه شول داسې ګټه یې له ځان سره راوړه چې مخکې به خدیجې رضی الله تعالی عنها دهغې نیمه ګټه کوله

د حضرت خدیجې (رض) سره واده

حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها چې له مخکې نه یې د رسول الله ﷺ مینه زړه ته ور ننوتلې وه د خپلې یوې ملګرې نفیسة بنت منیة سره یې خبره وکوله او هغې ته یې د خپل زړه دا خواهش ور ښکاره کړو چې که محمد ددې سره واده

وکوي .. هغه راغله او رسول الله ﷺ ته يې وويل رسول الله ﷺ هم خپله رضا ښکاره کړه او دا خبره يې خپلو ترونو ته وکوله حضرت حمزة بن عبد المطلب لاړلو او حضرت خديجه رضی الله تعالی عنها يې ورته د هغې د تره عمرو بن اسد نه وغوښتله او د يو قول له مخې ابو طالب ورته و غوښته خبره د دواړو طرفونو څخه جوړه شوه او د دوی واده وشو پدې وخت کې د رسول الله ﷺ عمر پنځه ويشت کاله او د حضرت خديجې رضی الله تعالی عنها عمر څلويښت کاله وو ترڅو پورې چې خديجة رضی الله تعالی عنها ژوندی وه رسول الله ﷺ بل واده نه وو کړی او د حضرت ابراهيم نه يې بغير نور ټول اولاد د حضرت خديجې رضی الله تعالی عنها څخې وو .

د رسول الله ﷺ نوري بيبياني

۲. حضرت سودة بنت زمعة بنت قيس بن عبد الشمس بن عبد ود بن نصر بن مالک بن حسل بن عامر بن لؤی د خديجې رضی الله تعالی عنها د وفات نه وروسته يې په مکه مکرمه کې ورسره واده کړی وو په آخر عمر کې يې د رسول الله ﷺ سره خپل وخت حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته ورکړی وو.

۳. حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها د هجرت نه دوه کاله وړاندې رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کې نکاح ورسره کړې وه په يو روايت کې تر هجرت دری کاله وړاندې او واده يې په مدينه منوره کې وشو د هجرت په پنځه اتيايم کال

په مدینه منوره کې وفات شوه په البقیع کې دفن کړل شوه د جنازې مونځ یې حضرت ابو هریره 8 اداء کړو .
د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه بغیر رسول الله ﷺ د بلې پیغلې سره واده نه وو کړی او دیته ام عبد الله هم ویل کېدل .
٤. حضرت حفصة بنت عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنهما :
دا مخکې د خنیس بن حذافة سره وه هغه هم د رسول الله ﷺ د نیږدې ملګرو نه وو په مدینه منوره کې وفات شو او د بدري صحابه وو څنې دی .
٥. ام حبیبة بنت ابي سفیان
نوم یې رَملة بنت صخر (ابو سفیان) بن حرب بن امیة بن عبد الشمس بن عبد مناف وو د خپل خاوند عبید الله بن جحش

سره يې حبشې ته هجرت کړی وو رسول الله ☸ چې ورسره نکاح وکوله هغه وخت هم دا په حبشه کې وه د نکاح کفالت يې حضرت عثمان 8 د يو قول له مخې حضرت خالد بن سعيد بن العاص کړی وو او ددې مهر هم د رسول الله ☸ له لوري نه نجاشي ٤٠٠ درهمه ورکړي وو د هجرت په څلوېښتم کال وفات شوه .

٦. حضرت ام سلمة رضى الله تعالى عنها

نوم يې هند بنت ابي امية بن المغيرة بن عبد الله بن عمرو بن مخزوم بني يقظة بن مرة بن کعب بن لؤی بن غالب وو د رسول الله ☸ نه وړاندې د ابي سلمة عبد الله بن عبد الاسد بن هلال بن عبد الله بن عمرو بن مخزوم سره وه د هجرت په ٦٢ کال په مدينه منوره کې وفات شوه او په بقيع کې دفن کړل شوه

۷. حضرت زینب بنت جحش رضی الله تعالی عنها

دا حضرت زینب بنت جحش بن رئاب بن یعمر بن صَبِرة بن مُرة بن کبیر بن غَنم بن دودان بن اسد بن خزیمة بن مُدرکة بن الیاس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان وه دا يې د عمه لور هم وه عمه يې امیمة بنت عبد المطلب وه.

دا د رسول الله ﷺ نه وړاندې دده د ازاد کړل شوي غلام زید بن حارثة سره وه هغه طلاقه کړه او الله ① ده ته په نکاح کړه په زمکه باندې يې نکاح ونه تړل شوه الله ① فرمايي:

سورة احزاب آية ۳۷

فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا

ترجمه : کله چې هغه زيد پرېښوده هغه مونږ تاته په نکاح کړه

دې بي بي به کله نورو ته ويل تاسې خپلو پلرونو رسول الله ﷺ ته په نکاح ورکړې ياست او زه الله ① تر اوو اسمانونو پورته رسول الله ﷺ ته په نکاح کړې يم د هجرت په شلم کال په مدينه منوره کې وفات شوه او په بقيع کې دفن شوه .

۸. حضرت زينب بنت خزيمة رضى الله تعالى عنها

دا حضرت زينب بنت خزيمة بن الحارث بن عبد الله بن عمرو بن عبد مناف بن هلال بن عامر بن صعصعة بن معاوية وه دې ته ام المساکين ويل کېدل ځکه دې له غريبانو سره ډېره همدردي کوله او هغوی ته به يې خوراکونه ورکول .

د رسول الله ﷺ نه وړاندې د عبد الله بن جحش سره وه رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې د هجرت په دريم کال ورسره واده وکولو لږ وخت يې ورسره تېر کړو تقريبا دوه يا درى مياشتې وروسته وفات شوه او د رسول الله ﷺ په ژوندانه کې يوه خديجه او يوه همدا بې بي وفات شوې دې رضى الله تعالى عنهما .

٩. حضرت جويرية بنت الحارث رضى الله تعالى عنها

دا حضرت جويرية بنت الحارث بن ابي ضرار بن حبيب بن عائذ بن مالک بن المصطلق الخزاعية وه د بني المصطلق په غزوة کې ژوندۍ د وينزې په شکل کې ونيول شوه د غنيمت په ويش کې د حضرت ثابت بن قيس بن شماس په برخه کې

ورسېده هغه مکاتبه کړه (ورته یې وویل چې ماته دومره پیسې راکړه بیا ازاده یې) هغه مبلغ یې رسول الله ﷺ اداء کړو چې کله ازاده شوه رسول الله ﷺ د هجرت په شپږم کال ورسره نکاح وکوله د هجرت په ٥٦ کال په ربیع الاول میاشت کې وفات شوه .

١٠. صفیه بنت حیی رضی الله تعالی عنها

دا حضرت صفیة بنت حیی بن اخطب بن ابي یحیی بن کعب بن الخزرج بن النِضریة وه او دوی د هارون ؑ د اولادې ځنې وو د خیبر په جنګ کې د وینزې په توګه بندي راوستل شوه مخکنی خاوند یې کنانة بن ابي الحقیق وو هغه قتل کړل شو بیا رسول الله ﷺ ازاده کړه او دا ازادي یې ددې

لپاره مهر کړو او نکاح يې ورسره وکوله د هجرت په دېرشم کال د يو روايت له مخې په پنځوسم کال باندې وفات شوه .

١١. حضرت ميمونة بنت الحارث رضی الله تعالی عنها

دا حضرت ميمونة بنت الحارث بن حزن بن بُجير بن الهرم بن رويبة بن عبد الله بن هلال بن عامر بن صعصعة بن معاوية وه دا د حضرت خالد بن وليد او حضرت عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما خاله وه رسول الله ﷺ ددې سره د مکې مکرمې نه په نه ميله لرې ځای سرف کې واده کړی وو او دا په سرف کې وفات شوې هم ده او په هغه ځای کې دفن کړل شوېده چېرته چې ددې واده وو او په امهات المومنين کې دا وروستنۍ

وه چې رسول الله ﷺ ورسره واده کړی وو د هجرت په ٦٣ کال وفات شوه .
دا ټولې هغه بيبيانې وې چې د رسول الله ﷺ په نکاح کې راغلې وې .

د رسول الله ﷺ اولاد

د رسول الله ﷺ درې زامن وو .

١. قاسم

د همدې په نوم باندې به ده ته اواز کېدو (ابو القاسم) تر نبوت وړاندې په مکه مکرمه کې پيدا شوی وو د دوو کلونو په عمر کې وفات شو د ابو قتاده د قول له مخې چې کله وفات کېدو پدې وخت کې ګرځېدلی شوای .

٢. عبد الله

ده ته يې طيب او طاهر هم ويل ځکه دا تر بعثت وروسته پيدا شوی وو په يو

قول کې طیب او طاهر نور ماشومان راغلي دي لکن اوله خبره صحیح ده چې دا د عبد الله نومونه وو .

٣. ابراهیم

په مدینه منوره کې پیدا شو او د اولسو یا آتلسو میاشتو په عمر کې وفات شو دهغه په اړه رسول الله ﷺ فرمایل ابراهیم پداسې وخت کې وفات شو چې شودې یې خوړې په جنت کې دده لپاره شودې ورکونکې مقررې دي چې دده د شودو وخت ور پوره کړي .

د رسول الله ﷺ **لوراني:**

١. حضرت زینب رضی الله تعالی عنها

د حضرت خدیجې رضی الله تعالی عنها لور وه د حضرت خدیجې بله خور هاله نومېده دهغې زوی وو چې د زینب د خاله زوی کېدو ابو العاص بن الربیع

بن عبد العزى بن الشمس دهغه په نكاح كې وه يو يې زوى وو علي نوميدو په ماشوم توب كې وفات شوى وو او يوه يې لور وه اُمامَة دا هغه ماشومه وه چې رسول الله ﷺ په مانځه كې پورته كړې وه .

٢. فاطمه

دا يې حضرت علي 8 ته په نكاح وركړې وه ددې درى زامن وو حسن ، حسين او محسن رضى الله تعالى عنهم حضرت محسن په ماشوم توب كې وفات شوى وو دوه يې لوراني وې ام كلثوم د حضرت عمر 8 په نكاح كې وه او زينب د عبد الله بن جعفر بن ابي طالب په نكاح كې وه .

٣. رقية

دا د حضرت عثمان 8 په نكاح كې وه

بیا وفات شوه یو زوی یې وو عبد الله نومېدو ددې امله به حضرت عثمان 8 ته ابو عبد الله هم ویل کېدو .

٤. ام کلثوم

د خور د وفات نه وروسته یې د حضرت عثمان 8 په نکاح کې راغلې وه بیا وفات شوه دا چې کله وفات شوه رسول الله ﷺ **حضرت عثمان 8 ته** و فرمایل که زما بله لور وای نو هغه به مې هم په نکاح درکړې وه .

د رسو ل الله ﷺ لورانې په اتفاق سره څلور دي او د زامنو په اړه یې صحیح قول دادی چې هغوی دری دي .

اولادونه یې پدې ترتیب وو :

القاسم، زینب، رقیة ، فاطمه، ام کلثوم دوی تر بعثت وړاندې پیدا شوي وو او تر بعثت وروسته عبد الله او

ابراهیم پیدا شول ددې اولادونو مور حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها وه صرف د ابراهیم مور حضرت ماریة قبطیة رضی الله تعالی عنها وه د رسول الله ﷺ ټول اولاد دده نه وړاندې وفات شوی دی صرف فاطمه د رسول الله ﷺ نه شپږ میاشتې وروسته وفات شوه رضی الله تعالی عنها .

د رسول الله ﷺ ترونه

د رسول الله ﷺ یولس (۱۱) ترونه وو .

۱. حارث بن عبد المطلب

د عبد المطلب مشر زوی وو او د عبد المطلب کنیة نوم هم ابو الحارث وو د حارث زوی او لمسیان د رسول الله ﷺ سره اوږه په اوږه ولاړ ملګري وو .

۲. قُثَم بن عبد المطلب :

په ماشوم توب کې مړ شوی وو او د حارث بن عبدالمطلب سکه ورور وو (د دواړو مور هم یوه وه)

۳. زبیر بن عبد المطلب :

د قریشو د شریفو خلکو له جملې نه وو زوی یې عبد الله بن الزبیر 8 وو په حنین کې د رسول الله ﷺ سره په جنګ کې شریک وو د اجنادَین په واقعه کې چې په شام کې د مسلمانانو او رومیانو په مینځ کې جنګ وو په شهادت ورسېدو او جسد مبارک یې په داسې حالت کې پیدا شو چې شاو خوا ته یې اوه کسان وژلي وو او دی یې هم شیهد کړی وو یوه لور یې ضباعة بنت الزبیر صحابیة وه بله لوریې ام الحکم بنت الزبیر هم صحابیة وه د رسول الله ﷺ نه یې روایت هم کړی دی .

٤. حمزة بن عبد المطلب ❽ :

د الله او دهغه د رسول زمری وو او په رضاعت کې د رسول الله ﷺ ورور وو (قصه یې مخکې تېره شوه) د اسلام په اوائلو کې په اسلام مشرف شوی وو مدینې منورې ته یې هجرت کړی وو په بدر کې شریک وو په احد کې په شهادت ورسېدو د مورخ القسطلاني له نظره دوه لوراني یې وې عمارة ، یعلی .

٥. ابو الفضل العباس بن عبد المطلب :

په اسلام مشرف شوی وو او ښه اسلام یې راوړی وو او مدینې منورې ته یې هجرت کړی وو د رسول الله ﷺ نه دری کاله مشر وو لس زامن یې وو حضرت فضل ، حضرت عبد الله ، حضرت قُثم یې صحابه وو د هجرت په دوه دیرشم کال د حضرت

عثمان ● په خلافت کې په مدینه منوره کې وفات شو او د رسول الله ﷺ په ترونو کې صرف حضرت عباس او حضرت حمزة رضی الله تعالی عنهما په اسلام مشرف شوي وو .

٦. ابو طالب بن عبد المطلب

نوم یې عبد مناف وو د رسول الله ﷺ د پلار عبد الله سره په مور کې هم شریک وو (سکه تره یې وو) خور یې عاتکه وه چې د بدر و اقعې نه وړاندې یې یو خوب لیدلی وو چې په مکه کې د ټولو خلکو کورونو ته مصیبت راځي د دوی مور فاطمة بنت عمرو بن عائذ بن عمران بن مخزوم وه .

یو زوی ئې وو طالب هغه د کفر په حالت کې مړ شو عقیل، جعفر، علي او لور یې وه ام هانئ دا ټول په اسلام

مشرف شوي وو .

۷. ابو لهب بن عبد المطلب :

نوم يې عبد العزى وو پلار يې ورته ابو لهب دده د شائسته مخ له امله ويل زامن يې عتبة او معتب وو د حنين په واقعه کې د رسول الله ﷺ بهترين ملګري وو عُتيبة يې د کفر په حالت کې مړ شو .

۸. عبد الكعبة بن عبد المطلب

۹. حجل بن عبد المطلب نوم يې المغيرة وو

۱۰. ضرار بن عبد المطلب د حضرت عباس رضي الله عنه سکه ورور وو

۱۱. غيداق بن عبد المطلب :

غيداق يې ورته ويل چې په سخا او خوراک ورکولو کې په ټولو قريشو کې مشهور وو کله چې رسول الله ﷺ مبعوث

شو نو پدې وخت کې يې صرف څلور ترونه وو په دوی کې حضرت عباس او حضرت حمزة رضی الله تعالی عنهما په اسلام مشرف شول او ابو لهب يې په ښکاره سره تر آخره پورې دښمنې پر غاړه کرځوله د ابو طالب په اړه هم اکثر رايه داده چې هغه اسلام نه دی قبول کړی .

د رسول الله ﷺ عمه ګانې

د رسو ل الله ﷺ شپږ عمه ګانې وې :

۱. صفية بن عبد المطلب :

د حضرت حمزة ؓ سکنۍ خور وه په اسلام مشرفه شوې وه هجرت يې کړی وو د زبير بن العوام مشهور جليل القدر صحابي مور وه د حضرت عمر ابن الخطاب ؓ د خلافت په دور کې په مدينه

منوره کې وفات شوه .

۲. عاتکة بنت عبد المطلب :

ددې په اړه ویل کېږي چې په اسلام مشرفه شوې وه د بدر نه یې وړاندې د مکې د خلکو د بد حالت په اړه خوب لیدلی وو چې بالکل رښتیا شو د ابي امیة بن المغیرة ابن عبد الله بن عمرو بن مخزوم سره یې واده شوی وو عبد الله یې زوی وو په اسلام مشرف شوی وو بل زوی یې زهیر وو او یوه لور یې قریبة الکبری وه .

۳. اروی بنت عبد المطلب .

د عمیر بن وهب بن عبد الدار سره یې واده شوی وو زوی یې طلیب بن عمیر وو په اسلام او هجرت مشرف شوی وو په بدر کې موجود وو د اجنادین په واقعه کې چې په شام کې د مسلمانانو

او رومیانو په مینځ کې جنګ وو په شهادت ورسېدو .

٤. امیمة بنت عبد المطلب :

د جحش بن رئاب سره یې واده شوی وو په زامنو کې یې یو حضرت عبد الله ❽ وو چې په بدر کې شهید شو بل ابو احمد شاعر وو په سترګو ړوند وو خپل نوم یې عبد وو په لورانو کې یې یوه حضرت زینب ❽ وه چې د رسول الله ☸ مېرمن وه بله یې حبیبة او بله حمنة وه په اسلام باندې مشرفې شوې وې بل زوی یې عبید الله بن جحش وو اسلام یې قبول کړو بېرته نصراني شو په حبشه کې د نصرانیت په حالت کې مړ شو .

٥. برة بنت عبد المطلب :

د عبد الاسد بن هلال بن عبد الله بن عمر بن مخزوم سره یې واده شوی وو یو

زوی يې ابـو سلـمة وو .

٦. ام حکيم بـنت عبد الـمطلب :

دا پـه بـيضاء بـنت عبد الـمطلب بـانـدې مشهوره وه د کُريـز بـن ربـيعة بـن حبيب بـن عبد الـشمس بـن عبد مـنـاف سره يـې واده شوی وو ددېـنـه يـې اروی بـنـت کـريـز پـيدا شوې وه چې د حضرت عثـمـان 8 مـور وه .

هغه غلامان چې رسول الله ﷺ ازاد کړي وو (موالي)

1. زيد بن حارثة بن شراحيل الکلبي
2. د زيد زوی اسامة بن زيد .
3. ثوبان بن بُجدُد نسب يې په يمن کې وو .
4. ابو کبشة په مکه کې پيدا شوی وو ويل کيږي چې نوم يې سُلَيم وو جليل القدر صحابي وو بدري وو .
5. انسة په السراة نومي ځای کې پيدا شوې وه چې د مکې او يمن په مينځ کې ځای وو .
6. صالح يا شقران
7. رباح يا اسود
8. يسار يا نوبي
9. ابو رافع نوم يې اسلم وو په بل

قول نوم يې ابراهيم وو دا د حضرت عباس 8 غلام وو بيا يې رسول الله ﷺ ته تحفه کړو هغه ﷺ ازاد کړو .

10. ابو مويهَبة

11. فضالة

12. رافع د سعيد بن العاص غلام وو زوی ته يې په ميراث کې پاتې شو نيمو ميراث واله وو ازاد کړو او نيمو ويل چې نه يې ازادوو رافع راغلو رسول الله ﷺ ته يې ويل زما سره مرسته وکوه يعني هغه ميراث واله چې ما ازادول نه غواړي ته ورته ووايه چې ما ازاد کړي بيا ټولو د ميراث حق لرونکو په شريکه سره رسول الله ﷺ ته تحفه کړو رسول الله ﷺ ازاد کړو ده به ويل چې زه

د هغه کسانو څخه يم چې رسول الله ﷺ ازاد کړي دي .

13. مِدعم اسود رسول الله ﷺ ته حضرت رفاعة بن زيد الجذامي تحفه کړی وو .

14. کرکرة .

15. زيد د هلال بن يسار بن زيد نيکه وو .

16. عبيد

17. طهمان يا کيسان

18. مابور القبطي مقوقس ورکړی وو .

د رسـول الله ☸ خـادمـان

حضرت انـس بـن مـالـک بـن الـنضر الانـصاري ❽

ربـيـعة بـن كـعب الاسـلمـي ❽

سـعد د ابـو بـكر صديـق ❽ ازاد كـړل شوى غلام .

حضرت عبـد الله بـن مـسـعـود ❽ بـه يـې د پـڼو مـبـاركو سـاتـنه كـولـه كـلـه بـه چې رسـول الله ☸ پـا څـېدو هـغـه بـه يـې ور پـښو كـړې او كـلـه بـه چې رسـول الله ☸ كـېنـاسـتـلو نـو هـغـه بـه يـې پـه خـپـلـه غـېږه كـې نـيـولـې وې .

حضرت عُقـبـة بـن عـامـر الـجـهـني يـې د سـپـرلـۍ سـاتـنه كـولـه پـه سـفـرونـو كـې بـه يـې هـغـه تـر پـړې نـېـولـې وه .

حضرت بـلال بـن ربـاح ❽ .

ذو مِخمَر د نجاشي وراره په بل قول دهغه خوريى وو .

بُكير بن شداح الليثي .

ابوذر الغفاري

واقد ، ابو واقد ، هشام ، ابو ضْميرة ، حنين ، ابو عسيب، نوم يې احمر وو، ابو عبيد .

سفينة د ام سلمة غلام وو هغې ازاد كړو او شرط ئې ور باندې كېښودو چې ازاد به دې كړم لكن ټول عمر به د رسول الله ﷺ خدمت كوې هغه ورته وويل كه ته په ما باندې دا شرط هم مقرر نه كړې زه د رسول الله ﷺ نه بېلتون نه غواړم دا هغه كسان دي چې د رسول الله ﷺ په خدمت كې مشهور وو او د يو روايت له مخې ځلوېښت داسې كسان وو چې هغوى د رسول الله ﷺ خدمت كولو .

د رسوالله ﷺ وینزې

سلمی ام رافع

برکة ام ایمن (د پلار نه ورته په میراث کې پاتې شوې وه) د اسامة بن زید مور وه .

میمونة بنت سعد

خَضِرة

رضوي .

د رسول الله ﷺ موذنان

د رسول الله ﷺ څلور موذنان وو .

حضرت بلال 8

حضرت عبد الله بن ام مکتوم 8

دوی دواړو به په مدینه منوره کې اذان کولو .

حضرت ابو محذرة 8 ده به په مکه مکرمه کې اذان کولو .

حضرت سعد القرظ 8 ده به په مسجد قباء کې اذان کولو

د رسول الله ﷺ لیکوالان

د رسول الله ﷺ به چې کله د لیکلو ضرورت وو نو د لاندې کسانو څخنې به چا ورته دا خدمت کولو او لیکل به یې ورته کول که هغه به وحی لیکل وو او

که به چا ته څه پیغام وو.

حضرت ابو بکر صدیق، حضرت عمر ابن الخطاب، حضرت عثمان ابن عفان، حضرت علي بن ابي طالب، حضرت عامر بن فُهَيرة ، عبد الله بن ارقم ازهري، ابي ابن كعب ، ثابت بن قيس بن شماس، خالد بن سعيد بن العاص، حنظلة بن الربيع الاسدي، زيد بن ثابت، معاوية بن ابي سفيان او شرحبيل بن حسنة رضى الله تعالى عنهم اجمعين .

په دوی کې به معاوية بن ابي سفيان او زيد بن ثابت داسې کاتبان وو چې هغوی به هروخت د رسول الله ﷺ سره موجود وو

د رسول الله ﷺ استازي

رسول الله ﷺ عمرو بن امية الضمري د خپل رسول په توګه نجاشي بادشاه ته ور ولېږلو نوم يې اصحمة وو هغه ته چې د رسول الله ﷺ خط ورغلو هغه واخيستو په سترګو يې و موښولو او د خپل تخت نه ورته را ښکته شو په زمکه ورسره کېناستو ايمان يې راوړو او ايمان راوړل يې د حضرت جعفر ❽ او دهغه د ملګرو په وړاندې وو کله چې هغه وفات شوى وو رسول الله ﷺ ورباندې غائبانه جنازه کړې وه او ويل کيږي چې په قبر باندې به يې رڼا ښکاره کېده .

دحیة بن خلیفة الکلبي رسول الله ﷺ د روم بادشاه ته لیږلی وو نوم یې هِرَقل وو هغه د رسول الله ﷺ په اړه پوښتنې وکولې هغه ته ثابته شوه چې رسول الله ﷺ په حقه پیغمبر دی نو د مسلمان کېدلو عزم یې وکولو چې کله یې د روم خلکو ته دا خبره وکوله نو هغوی انکار وکولو بیا دی په خپله بادشاهي باندې وډار شو او د اسلام اعلان یې ونه کولو .

عبد الله بن حذافة السهمي یې کِسری ته لیږلی وو د فارس بادشاه وو هغه د رسول الله ﷺ د خط بې عزتي وکوله او هغه یې و شکولو رسول الله ﷺ چې خبر شو ویل یې الله د دده بادشاهي سره ټوټې

کړي يو څه وخت وروسته يې قوم او باداشاهي ټوټې شوه .

حضرت بَلتَعة اللَخمي ئې مقوقس ته لېږلی وو د مصر او اسکندريې باداشاه وو د رسول الله ﷺ د استازي عزت يې وکولو او دده سره يې په احترام خبرې وکولې لکن اسلام يې قبول نه کړو رسول الله ﷺ ته يې ماريه قبطيه وينزه او دهغې خور سيرين په تحفه کې را لېږلې وې ماريه قبطيه رسول الله ﷺ ازاده کړه او په نکاح ئې کړه د حضرت ابراهيم مور وه او سيرين يې حضرت حسان ابن ثابت ته ورکړه دهغې نه يې زوی پيدا شو عبد الرحمن بن حسان .

رسول الله ﷺ عمرو ابن العاص د عمان

بادشاهانو جَيفر بن الجُلندي او عبد بن الجُلندي چې دواړه د ازد قبيلې وو ور لېږلى وو دوى دواړه اسلام قبول كړو .

سليط بن عمرو بن العامري ﷺ يې يمامة ته هوذة بن علي الحنفي ته ور لېږلى وو هغه د رسول الله ﷺ د استازي عزت وكولو او د احترام سره ورسره مخامخ شو او رسول الله ﷺ ته يې په ښو الفاظو كې ښكلى خط بېرته را ولېږلو لكن اسلام يې قبول نه كړو .

شجاع بن وهب الاسدي يې حارث بن ابي شَمِر الغساني د بلقاء بادشاه ته ور لېږلى وو د شام زمكې ته هغه د رسول الله ﷺ خط ولوست او دهغه بې عزتي يې

وکوله او خط مبارک يې وغورځولو .

حضرت مهاجر بن ابي امية المخزومي يې الحارث الحميري ته ور لېږلی وو .

العلاء بن الحضرمي يې المنذر بن ساوي العبدي د بحرين بادشاه ته ور لېږلی وو او هغه ته يې خط ورلېږلی وو چې اسلام ته يې را غوښتلی وو ايمان يې قبول کړو او د رسول الله ﷺ تصديق يې وکولو .

حضرت ابا موسی الاشعري او معاذ بن جبل الانصاري رضی الله تعالی عنهما يې د يمن عوامو خلکو ته د دعوت کولو لپاره ور لېږلي وو .

د رسول الله ﷺ آسونه

اول آس چې رسول الله ﷺ يې مالک وو السَکب نومېدو د بني فزارة د يو کوچي نه يې په لس اواقه باندې اخستی وو د کوچي سره يې نوم الضرس وو کله چې رسول الله واخيستو نو يې السکب نوم ورته کېښودو دا اول هغه آس وو چې رسول الله ﷺ په غزا کې استعمال کړو .

مرتجز

دا هغه آس وو چې د يو کوچي نه يې واخيستو رسول الله ﷺ لاړو چې پيسې ورته راوړي ترخو چې رسول الله ﷺ را وتلو هغه کوچي په بل چا باندې قيمته خرڅ کړی وو رسول الله ﷺ ورته وويل تا خو دا آس په ما باندې په دومره قېمت خرڅ کړی وو هغه کوچي انکار وکولو

او ګواه موجود نه وو پدې وخت کې خزيمة بن ثابت راغلو او ددې ګواهي يې ورکړه چې هو کوچي دا آس په رسول الله ﷺ باندې خرڅ کړ کله چې بيا رسول الله ﷺ حضرت خزيمة رضي الله عنه ته وويل چې ته خو په هغه ځاى کې موجود نه وې تا څنګه ګواهي ورکړه ده ورته وويل چې مونږ په تا باندې ايمان راوړى دى او پدې زما يقين دى چې ته په درواغو دعوه نه کوې بيا رسول الله ﷺ ددې صحابي ګواهي په دوو باندې حساب کړه چې کله به هم ده ګواهي ورکوله نو دده ګواهي د دوو کسانو په ځاى کې قبوله وه او ددې امله حضرت خزيمة بن ثابت ته ذي شهادتين (د دوو ګواهيو مالک) ويل کيږي .

حضرت سهل بن سعد الساعدي فرمايي : د رسول الله ﷺ لما سره دری آسونه وو لزاز، الظرب او لحيف

لزاز :

د ا آس رسول الله ﷺ ته مقوقس تحفه کړی وو .

لحيف ورته ربيعة بن ابي البراء تحفه کړی وو .

الظرب ورته فروة بن عمرو الجذامي تحفه کړی وو .

د رسول الله ﷺ يو بل آس وو چې ورد ورته ويل کېدو تميم الداري ورته تحفه کړی وو .

يوه قچره يې وه چې الدلدل ورته ويل کېده په سفرونو کې به پرې سپرېدو د

رسول الله د وفات نه وروسته پاتې وه او په پوره مینه ساتل شوې وه تردې چې غاښونه یې ټول غورځېدلي وو وربشې به ورته میده کول کېدلې بیا به ورکول کېدلې ينبع (یو ښار دی د اوبو په خوا کې اوس مشهور ښار دی) دا قچره په همدې ځای کې مړه شوه .

د رسول الله ☸ یو خر وو (عُفیر) نوم یې وو په حجة الوداع کې مړ شو .

لس شودې ورکونکې اوښانې یې وې هغې به چې چا لوشلې په هغوی کې حناء، السمراء، العُریس ، السعدیة، البغوم ، الیسیرة ، الریا شاملې وې

یوه بله اوښه وه چې د دوو ښو اوښو

په اندازه شودي يې ورکولې هغې ته يې بردة ويله الضحاک بن سفيان ورته تحفه کړې وه .

بله اوښه وه مهرة حضرت سعد بن عبادة د بني نعم بن عقيل او الشقراء ورته را لېږلې وه .

يوه بله اوښه يې وه چې په کومه باندې يې مديني منورې ته هجرت وکولو القصواء نومېده
اوه شودې ورکونکې مېږې يې وې .
عجزة ، زمزم، سقيا، برکة ، ورسة ، اطلال، اطراف او سل بوده د مېږو او پسونو رمه يې وه .

د رسول الله ☸ سلاح

درى نيزې يې وې چې د بني قينقاع له سلاح نه د غنيمت په برخه کې ورته رسېدلې وې .

درى يې لينډۍ وې نومونه يې درلودل : الروحاء، شوحط، صفراء .

يو ډال يې وو چې په سر نقش وو پکې او د رسول الله ☸ هغه نه وو خوښ چې سبا يې وکتلو الله تعالى په خپل قدرت ترينه ختم کړى وو .

يوه توره يې وه چې ذو الفقار نوميده د بدر په غزا کې ورته په غنيمت کې رسېدلې وه اود منبه بن الحجاج

السهمي وه .

د بني قينقاع په سلاح كې ورته درى توري رسېدلي وې .

يوه قُلَعي توره وه (يو ځاى ته يې نسبت كيږي) .

بله توره وه بتار ورته ويل كېدو .

يوه بله توره وه چې الحنيف ورته ويل كېدل .

د بني قينقاع په سلاح كې رسول الله ﷺ ته دوه زغرې رسېدلې وې :

يوې ته يې السعدية ويل كېدل او بلې ته يې فِضة نوم كېښودل شوى وو .

د حضرت محمد بن سلمة ؓ نه روايت دى چې ما د احد په ورځ رسول الله ﷺ وليد چې دوه زغرې يې آغوستې وې يوه زغره وه چې ذات الفضول يې ورته ويل او بله زغره يې آغوستې وه چې الفضة

نومیده او د خیبر په ورځ مې ولید چې یوه یې الفضول او یوه یې السعدیة آغوستې وه .

د رسول الله ﷺ حج او عمرې

رسول الله ﷺ یو حج او له مدینې منورې څخه یا په بل عبارت د هجرت نه وروسته څلور ځله عمره کړې وه لکه حضرت یحی بن قتادة چې فرمایي ما د حضرت انس ﷺ نه پوښتنه وکوله : رسول الله ﷺ څو ځله حج کړی دی ؟ ده راته وویل فقط یو ځل او څلور یې عمرې وکولې.

اول هغه عمره وه چې کفارو د حرم نه بند کړو .

دوهم هغه عمره وه چې د راتلونکي کال لپاره یې وعده وشوه .

دريم هغه عمره وه چې د الجعرانة ځاى نه يې وکوله چېرته يې چې د حنين غنيمتونه تقسيم کړل .
څلرمه يې هغه عمره وه چې د حج سره يې په يو ځاى وکوله .

هغه حج چې رسول الله پکې شرکت کړى وو حجة الوداع ورته ويل کيږي ده پکې د خلکو سره خداى په اماني کړې وه او فرمايلي وو کيداى شي تاسې بيا ما ونه وينئ .

د رسول الله ﷺ غزاګانې

رسول الله ﷺ په خپله پنځه ويشتو او د يو قول له مخې اوه ويشتو غزاګانو ته تشريف وړی دی او ددېنه په نهو کې جنګېدلی دی چې په لاندې ډول دي .

بدر ، احد، خندق ، بني قريظة، بن مصطلق، خيبر ، فتح مکه ، حنين، طائف.

د رسول الله ﷺ یو څو معجزې

تر ټولو نه لویه او تر قیامته پورې پاتې او ژوندۍ معجزه قران کریم دی چې نه یې تر قیامته پورې څوک مقابله کولی شي او نه یې څوک مثل جوړولی شي او نه څوک ثابتولی شي چې یوه کلمه پکې بې ځایه واقع شوېده.

مشرکینو د رسول الله ﷺ نه وغوښتل چې څه معجزه ور ښکاره کړي نو یې ورته وښودل چې سپوږمۍ دوې ټوټې شوه دې حادثې ته د سیرت او تاریخ په کتابونو کې شق القمر وایي

رسول الله ﷺ به د خورما یو وچ ډډ ته دریدلو او خطبه به یې ویله کله چې منبر ورته جوړ شو نو د خورما د ډډ

نه لري هغه منبر ته ودرېدو چې خطبه ويل يې شروع کړل د خورما وچ ډډ داسې ژړل لکه انسان چې ژاړي رسول الله ﷺ ورته را نېږدې شو او قرار کول يې وغوښتل داسې سلګۍ يې وهلې لکه ماشوم چې د ژړانه قرارېږي او سلګۍ کوي .

کله به چې د اُبو ضرورت شو څو ځله رسول الله ﷺ په لوښي کې خپل لاس مبارک اېښی دی د ګوتو مبارکو د مينځونو څخه به يې اوبه رواني شوې .

شګې يې په لاس کې را پورته کړې دده ﷺ په مبارک لاس کې يې تسبيح ويله .

رسول الله ﷺ ډوډی خوړله هغې تسبيح

ويله اواز يي په مجلس كي آوريدل كيدو .

په هغه وخت كي چي مبعوث شو كله به چي يوازي چيرته تللو نو كانو او ونو وربانديٰ سلامونه ويل او چغي ئي ورته وهلي (السلام عليک يا رسول الله)

يوي يهودي ښځي د پسه په غوښه كي ورته زهر اچولي وو هغه كس چي دده ﷺ سره يي خوراک کړی وو مړ شو او دی دهغه وخت نه وروسته هم تر څلورو كلونو پوري ژوندی پاتي شو .

په يوه واقعه كي يي ليوه ددي ګواهي وركړه چي دی ﷺ په حقه نبي دی.

په يوه سفر کې په يو داسې اوښ باندې تېرېدلو چې اوبه وربانديې را وېستل کېدلې کله چې رسول الله ﷺ هغه ته نېږدې ورغلو نو هغه ورته و بړېد و رسول الله ﷺ وويل چې دې اوښ شکايت وکولو چې ده ته خوراک کم ورکول کيږي او کار وربانديې زيات کيږي بيا يې مالک ته ددې اوښ په اړه نصيحت وکولو .

رسول الله ﷺ يو باغ ته ننوتلو چې هلته له يو سړي نه دوه اوښان بې اختياره شوي وو او بېرته يې د نيولو کوښښ کاوه لکن نه يې شو کولی کله چې د يو اوښ په رسول الله ﷺ باندې نظر ولګېدو ورته راغلو په مخه کې يې چو شو (کېناستو) رسول الله ﷺ وتړلو او

خپل مالک ته يې حواله کړو او بيا دوهم اوښ هم همداسې وکول.

په يوه سفر کې ويده وو يوه ونه په داسې حالت کې ورته راغله چې زمکه يې څيرله او ده ته را نيږدې کېده ترڅو چې دده سره په خوا کې و درېده کله چې دی مبارک ﷺ را ويښ شو دا خبره ورته ياده کړل شوه ده ورته وويل دا يوه ونه وه د الله تعالى نه يې اجازه وغوښته چې په پيغمبر باندې سلام واچوي الله تعالى ورته اجازه وکوله .

يو کوچي ترې وغوښتل چې هغه ته څه معجزه ور ښکاره کړي يوې ونې ته يې اشاره وکوله هغه را روانه شوه او د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه

بېرته يې اشاره ورته وکوله خپل ځای ته لاړه . (جامع الترمذي حديث ٣٦٣٢)

يو وخت چې په حجة الوداع کې رسول الله ﷺ د شپږو اوښانو حلالول غوښتل ټول ورته را ټول شول هر يو ځان ورته وړاندې کولو چې اول شروع په ده باندې وشي . (النهاية لمړی جلد ١٠٨ مخ)

د يوې داسې مېږې غلانځ يې مسح کړه چې هغه بالکل وچه وه په هغې کې شودې را پيدا شوې هغه يې ولوشله او ويې څښلې حضرت ابو بکر صديق ؓ هم ورسره وو . (صحيح ابن حبان حديث ٦٥٠٤)

د قتادة بن النعمان الظفري ؓ

سترګه را ووتله او په لاس کې يې را پرېوتله رسول الله ☸ بېرته په خپل ځای کې کېښوده او په هماغه ساعت باندې جوړه شوه او حتی چې چا به ورته کتل نه ورته معلومېده چې کومه سترګه وه .

د حضرت علي ❽ په سترګو کې بيماري وه رسول الله ☸ پکې ور تف کړل بيا يې بالکل هغه بيماري ونه ليده او سترګې يې روغې جوړې شوې .

يو صحابي حضرت عبد الله بن عتيک الانصاري ❽ زخمي شو رسول الله ☸ ورباندې لاس را کش کړو په هماغه ځای باندې جوړ شو .

مخکې د احد نه ده خبر ورکړو چې دی به ابی بن خلف الجمحي د احد په ورځ وژني په احد کې يې هغه معمولي زخمي کړو بيا دهماغه زخم نه مړ شو .

حضرت سعد ابن معاذ ❽ امية بن خلف ته چې پخوانی تعلق يې وو ورسره وويل محمد ﷺ ويلي دي چې هغه به تا وژني يو څه وخت نه وو تېر شوی چې په بدر کې ووژل شو .

د بدر په شپه يې د صحابه وو سره د بدر د جنګ د ميدان په ساحه باندې چکر وهلو او صحابه وو ته يې ويل چې پدې ځای به سبا فلان او په دې ځای به فلان قتل کيږي حضرت عمر ❽ وايي چې مشران په هماغه ځايونو باندې هلاک

شول چې رسول الله ﷺ مونږ ته را ښودلي وو .

رسول الله ﷺ له مخکې نه خبر داری ورکړی وو چې زما د امت نه به یوه ډله په بحر باندې هم جنګیږي او ام حرام بنت ملحان به له دوی نه وي بیا هماغسې پېښ شول څنګه چې ده ﷺ ویلي وو .

اسود عنسي چې د پیغمبري دعوه یې کړې وه پدې وخت کې هغه په یمن کې وو رسول الله ﷺ په مدینه منوره کې خلکو ته خبر ورکړی وو چې نن شپه هغه وژل کیږي او قاتل یې هم ورته ښودلی وو .

د کسرى د قتل او د قاتل نه يې صحابه وو ته په مدينه منوره کې خبر ورکړى وو .

حضرت ثابت بن قيس 8 ته يې ويلي وو ښه ژوند به تېر کړې او شهيد به مړ شې د حضرت ثابت 8 ښه ژوند وو او په يمامة کې په شهادت ورسېدو .

يو کس چې د مسلمانانو په ډله کې وو او په ښه مېړانه باندې جنګېدو رسول الله ☸ وفرمايل دا سړى دوزخي دى صحابه ورته زيات حيران شول چې هغه دومره په مېړانه سره جنګيږي او بيا هم دوزخي دى بالآخره هغه زخمي وو د زخم په درد او تکليف يې صبر ونه کړو

او خپل ځان يې پخپله حلال کړو .

د حضرت عمر د اسلام دعا يې د شپې وکوله سبا ته هغه په اسلام مشرف شو .

حضرت علي 8 ته يې دعا کړې وه چې دده نه دې ګرمي او يخني لاړه شي بيا به حضرت علي 8 د ګرمۍ او يخنۍ څخه نه تکليف کېدو .

حضرت عبد الله بن عباس 8 ته يې دعا کړې وه چې الله تعالى د ده ته ښه علم ورکړي بيا الله تعالى ورته داسې علم ورکړو چې بحر ورته ويل کېدو.

حضرت انس 8 ته يې دعا وکوله چې الله تعالى د اوږد عمر، ډېر اولاد، ډېر

مال درکړي حضرت انس ❽ د ۱۲۰ کلونو په عمر کې وفات شو پدې وخت کې يې ۱۲۰ نارينه نسل په کور کې وو او د خورما وو ونو به يې په کال کې دوه ځله بار نيولو .

خلکو ورته د وچ کالي نه شکايت وکولو دی په منبر وو دعا يې وکوله مخکې ددې چې دی له منبر را ښکته شي وريځ را پيدا شوه تر بلې جمعې پورې مسلسل باران وشو بله جمعه خلک ورته را غلل د ډېر باران نه يې شکايت ورته کولو ده ☸ دعا وکوله چې ای الله ➀ په شاوخوا يې باران کړې په مونږ يې مه کوې دوی د جومات نه په داسې حالت کې را ووتل چې لمر را ختلی وو .

د خندق په واقعه کې زر کسان مسلمانان وو يو صحابي د خوراک انتظام ورته وکولو يو وړوکی څاروی يې حلال کړو او يوه پيمانه وربشې يې ورته ډوډی کړې د ټولو زرو کسانو بس شوې او خوراک لا اوس هم تر هغه نه ډير پاتې وو کوم چې په اصل کې وو .

د خندق په واقعه کې د بشير بن سعد لور خپل پلار او خپل ماما عبد الله بن رواحة ته يو څه لږ اندازه خورما راوړې رسول الله ﷺ هغه ټولو شاوخوا ۱۰۰۰ کسانو غازيانو ته ورکړې او د ټولو بس شوې .

د حضرت ابي طلحة رضي الله عنه په کور کې اتيا کسان صحابه وو حضرت انس رضي الله عنه دومره

ډوډۍ راوړه چې په تخرګ کې يې را نيولې وه د ټولو کسانو بس شوه .

کله يې چې په ام المومنين زينب باندې واده جوړ کړو نو يوه کاسه ډوډۍ وه چې ام سليم ورته را لېږلې وه هغه يې کېښوده ټولو خلکو ترې خوراک وکولو چې کله يې پورته کوله څوک نه پوهېدل چې په کوم وخت کې کاسه کېښودل شوې وه هغه وخت طعام پکې ډېر وو او که د پورته کولو په وخت کې .

په بدر او حنين کې يې يو موټی خاورې را واخيستې د مشرکينو طرف ته يې ور وغورځولې د هر يو سترګو او مخ ته ور ورسېدلې .

مدينې منورې ته د هجرت په شپه په داسې حالت کې له کور نه را ووتلو چې شاوخوا ۱۰۰ کسانو قريشو يې په وېښو سترګو په دروازه کې انتظار کولو خو بيا يې هم دى مبارک ﷺ ونه ليدلو .

د هجرت په وخت کې سراقة بن مالک په دوى پسې ورغلو او غوښتل يې چې دوى ونيسي او يا يې ووژني او هغه د ۱۰۰ اوښانو انعام تر لاسه کړي چې قريشو دده ﷺ د سر په بدل کې ټاکلى دى رسول الله ﷺ ورته ښېرا وکوله په وچه زمکه کې يې د آس مخکنى پښې ننوتلې او ناکام بېرته را وګرځېدو .

د رسول الله ﷺ په ژوند کې مهمې واقعې او بدلونونه .

له تولد نه تر پيغمبري پورې

لکه مخکې چې تېر شو په (عام الفيل) کې د ربيع الاول په دولسمه د دوشنبې په ورځ پيدا شو حليمې بي بي ته حواله کړل شو چې په کلي کې يې ساتنه وکوي او شودې ورته ورکړې هغه په بني السعد کې اوسېده نېږدې پنځه کاله د هغې سره پاتې شو بيا يې خپلې مور ته ور کړل شو .

مور يې دده په شپږ کلنۍ کې وفات شوه بيا يې ساتنه ام ايمن کوله او د نيکه عبد المطلب تر نظر لاندې وو .

دی د آتو کلونو وو چې نيکه يې رحلت وکولو بيا يې تره ابو طالب پالنه

کوله .

په دولس کلنئ کي يي د خپل تره سره د شام سفر وکولو .

د حضرت خديجي رضی الله تعالی عنها سره يي دخپل عمر په پنځه ويشت کلنئ کي واده وکولو چي پدي وخت کي هغه بي بي د څلوېښتو کلونو وه .

په حلف الفضول کي شريک شو دا د قريشو په مينځ کي يو تعهد وو چي د هر مظلوم مرسته به دوی په شريکه سره کوي.

د کعبي په تعمير کي يي شرکت وکولو او د حجر اسود په خپل ځای کي د کېښودلو فيصله هم ده ﷺ وکوله پدي وخت کي د رسول الله ﷺ عمر پنځه دېرش کاله وو .

په څلوېښت کلنئ کي الله تعالی د نبوت

لــوړه مـرتــبـه ورکـړه

د بعثت شروع

په رسول الله ﷺ باندې په غار حراء کې د وحي راتلل شروع شول .

حضرت خديجه ، حضرت علي، ابو بکر صديق ، زيد بن حارثه رضی الله تعالی عنهم په اسلام مشرف شول .

تر دريو کلونو پورې دعوت په پټه سره و چلېدو مهم کسان او د لوړو مرتبو لرونکي خلک پکې مسلمانان شول لکه حضرت عثمان، زبير ابن العوام ، عبد الرحمن ابن عوف، صهيب الرومي ، عمار ابن ياسر، ابي ذر، عبد الله ابن مسعود ، عثمان ابن مظعون او داسې نور رضی الله تعالی عنهم اجمعين

د بعثت څلورم کال

دعوت په ښکاره سره شروع شو .

د رسول الله ﷺ او د هغه د ملګرو په خلاف د کفارو ظلمونه زیات شول

د بعثت پنځم کال

کله چې په مکه کې په مسلمانانو باندې د کفارو ظلمونه تر حد واوښتل رسول الله ﷺ هغه کسانو ته د هجرت امر وکولو چې هغوی د کورنۍ په حساب باندې کمزوري وو او کفار دهغوی د یوازې توب له امله په هغوی باندې په ظلمونو کولو کې زړور ورتلل .

د بعثت شپږم کال

حضرت حمزة بن عبد المطلب او حضرت عمر رضی الله تعالی عنهما په اسلام مشرف شول .

د بعثت اوم کال

د رسول الله ﷺ په کورنی باندي اقتصادي بندیز ولګېدو او قریشو تعهد وکولو چې نه به په دوی څوک کوم شی خرڅوي او نه به یې له دوی نه اخلي او نه به له دوی سره څوک واده کوي او نه به ورسره څوک خبرې کوي ترڅو چې دوی مونږ ته محمد په لاس نه وي راکړی (پوره قصه یې زمونږ په کتاب (د اسلامي تاریخ له پاڼو څخه ۳) کې را اخستل شویده) .

رسول الله ﷺ بیا خپلو صحابه وو ته امر وکولو چې دوی دې حبشې ته هجرت وکوي او دا دوهم هجرت وو پدې کې ۸۳ سړي او دولس ښځې شاملې وې او د یو قول له مخې دا هجرت د بعثت په شپږم کال کې وو .

د بعثت لسم کال

د رسول الله ﷺ په کورنۍ باندې د قریشو تعهد مات شو .

د دریو کلونو بندیز وروسته رسول الله ﷺ له خپلې ساحې نه بهر را ووتلو .

حضرت خدیجه رضی الله عنها وفات شوه .

د رسول الله ﷺ تره ابو طالب رحلت وکولو .

رسول الله ﷺ د دعوت لپاره طائف ته لاړو او سخت تکلیف یې ولیدو .

رسول الله ﷺ تر مکې بهر خپل دعوت ته فراخي ورکړه .

د پېریانو یوه ډله په اسلام مشرف شول .

د بعثت یولسم کال

د اسراء او معراج سفر (د يو قول له مخې دا په لسم کال کې وه) مونځ فرض شو.

د رسول الله ﷺ سره د مدينې منورې شپږ کسان مخامخ شول او په اسلام مشرف شول هغه کسان ابو امامة، اسعد بن زرارة، عوف بن الحارث، رافع بن مالک، قطبة بن حديدة، عقبة بن عامر، سعد بن ربيع رضى الله تعالى عنهم اجمعين وو او ددوى په مرسته مدينې منورې ته د نوي او مقدس دين تخم را ورسېدو.

د بعثت دولسم کال

بيعة عقبة اول وشو د مدينې منورې ۱۲ کسانو د رسول الله ﷺ سره دهغه په مرسته باندې بيعت وکولو او په دوى کې أبو أمامة، عوف بن الحارث، رافع

بن مالك، ذكوان بن عبد قيس، خالد بن مخلف، عبادة بن الصامت، عباس بن عبادة، أبو الهيثم بن التيهان، عويم بن ساعدة رضى الله تعالى عنهم اجمعين شامل وو .

سعد بن عبادة او اسيد بن حضير او د اشهل ټوله قبيله په اسلام مشرف شول .

د مديني منورې په قبائلو کې اسلام خپور شو .

د بعثت دیارلسم کال

د عقبة دوهم بيعت وشو پدې کې ٣٧ کسانو انصارو د رسول الله ﷺ سره بيعت وکولو دوی چې مديني منورې ته راغلل اسلام هر يو کور ته ور ورسېدو.

رسول الله ﷺ مديني منورې ته هجرت وکولو .

د هجرت لمړی کال

رسول الله ﷺ قباء ته ورسېدو .

رسول الله ﷺ مدينې منورې ته ننوت او د ابو ايوب انصاري سره دمه شو.

د مسجد قباء د تعمير تېره کېښودل شوه .

مسجد نبوي جوړ شو .

د يهودو او مسلمانانو په مينځ کې د صلح تړون وشو .

د مهاجرو او انصارو مسلمانانو په مينځ کې وروروګلوي جوړه شوه .

اذان شروع شو .

عبدالله بن سلام په يهودو کې د ښې مرتبې خاوندوو مسلمان شو .

د مدينې منورې نه د ډېر وخت نه مسلطه وباء پورته شوه .

د جهاد اجازه وشوه .

د هجرت دوهم کال

غزوة ودّان ، غزوة بواط او غزوة العشرة واقع شوې پدې غزواتو کې جنګ ونشو رسول الله ﷺ به د صحابه وو سره وتلو چې د قریشو د تجارتي قافلې مخه ونیسي لکن هغه به تېرېدله .

غزوة بحر پدې کې رسول الله ﷺ د کرز بن جابر په لټون کې وتلی وو ځکه هغه د مدینې منورې د ساحو نه د مال غلا کړې وه لکن هغه په تېښته بریالی شو او جنګ ونشو .

د عبد الله بن جحش سریه واقع شوه پدې حادثه کې مسلمانانو لمړی غنیمت واخیستو .

قبله د بیت المقدس نه مکې مکرمې ته وګرځېده .

روژه فرض شوه .

زکات فرض شو .

د بدر غزوه واقع شوه چې اول هغه واقعه وه چې مسلمین او مشرکین سره و جنګېدل او مسلمانان د ۳۱۳ کسانو ډله د کفارو د ۱۰۰۰ کسانو سره په داسې حال کې مخامخ شول چې د هغوی جنګي اسباب تر مسلمانانو غوره وو لکن الله تعالی مسلمانانو ته تاریخي کامیابي ور په برخه کړه د کفارو له لوري نه ۷۰ کسان ووژل شول چې د مکې ټول مشران پکې وو او ۷۰ کسان یې ژوندي ونیول شول د مسلمانانو له لوري نه ۱٤ کسان د شهادت مقام ته ورسېدل.

غزوة بني قینقاع واقع شوه چې په مدینه منوره کې د یهودو سره لمړی شخړه وه رسول الله ﷺ هغوی محاصره کړل بیا یې محاصره ماته کړه او هغوی د

مدينې پرېښودلو ته راضي شول .

❁ غزوة السويق واقع شوه چې رسول الله ❁ د ابو سفيان په طلب كې وروسته د هغې راوتلى وو چې هغه په چريكي عملياتو سره د مدينې منورې په حدودو كې مسلمانان قتل كړي وو لكن ابو سفيان په تېښته بريالى شو او جنګ پكې واقع نه شو

حضرت علي 8 ته حضرت فاطمه 8 په نكاح كړل شوه .

د رسول الله ❁ واده د حضرت عائشې 8 سره وشو .

د هجرت دريم کال

غزوة غطفان واقع شوه کله چې بني ثعلبة او بني محارب څه خلک را ټول شول په مدينه منوره يې حمله کول غوښتل مخکې ددې چې دوی حمله وکوي رسول الله ﷺ له خپلو ملګرو سره په دوی پسې ددوی ځای ته ورغلو دوی وتښتېدل او په ميدان کې ترېنه ۵۰۰ اوښان پاتې شوي وو هغه مسلمانانو ته په غنيمت کې ور تقسيم کړل شول .

غزوة بحران واقع شوه کله چې رسول الله ﷺ خبر شو چې د بني سليم خلک په مدينه منوره باندې په جنګي توګه را تلل غواړي نو رسول الله ﷺ په دوی پسې ورغلو هغوی و تښتېدل او جنګ واقع نه شو .

غزوة احد واقع شوه چې اويا کسان صحابه رضی الله تعالی عنهم پکې شهيدان شول او د کفارو له لوري نه ۲۳ کسان ووژل شول رسول الله ﷺ پخپله هم پکې زخمي شو او غاښ مبارک يې مات شو حضرت حمزة بن عبدالمطلب پکې شهيد شو .

غزوة حمراء الاسد واقع شوه پدې کې رسول الله ﷺ ووتلو صرف د مديني منورې شاوخوا يې کتل چې قريش مديني ته په بې خبرۍ کې رانشي پدې غزوة کې هم جنګ نه وو .

رسول الله ﷺ د حفصة بنت عمر رضی الله تعالی عنهما سره واده وکولو .

د شرابو د حرمت حکم نازل شو .

د هجرت څلورم کال

د بعث الرجیع واقعه میـنځ ته راغله پدې کې رسول الله ﷺ لس کسان صحابه د قبائلو د څه کسانو سره ولېږل چې هغوی ته قران ور زده کړي او حضرت عاصم بن ثابت الانصاري يې په دوی باندې امیر مقرر کړو لکن هغه خلکو له دوی سره خیانت وکولو او دوی يې شهیدان کړل .

د بعث القراء واقعه پېښه شوه پدې واقعه کې رسول الله ﷺ اویا کسان د قران کریم قاریان د اهل نجد د دعوت لپاره ولېږل هغوی د رسول الله ﷺ سره خیانت وکولو او ټول يې شهیدان کړل .

غزوة بني النضیر واقع شوه : د بني النضیر یهودو د رسول الله ﷺ سره کړی تړون مات کړو او د رسول الله ﷺ د قتل دسیسه یې جوړه کړه الله تعالی رسول الله

- ته ددوی د خیانت خبر ورکړو پدې توګه رسول الله ﷺ د دوی د دسیسې نه په امن پاتې شو او رسول الله ﷺ دوی د مدینې نه وشړل .

غزوة ذات الرقاع واقع شوه پدې حادثه کې رسول الله ﷺ په اهل نجد پسې ورغلو هغوی د رسول الله ﷺ د جنګ نه و تښتېدل او هرشی یې پرېښودل د یو روایت له مخې دا واقعه د هجرت په اوم کال وه .

د ویرې په حالت کې د مانځه لپاره نوی طریقه نازله شوه .

تیمم روا شو .

د هجرت پنځم کال

غزوة دومة الجندل واقع شوه پدې کې رسول الله ﷺ په هغه کسانو پسې را ووتلو چې لاره به یې نیوله او د خلکو نه به یې غلا کوله .

غزوة بني مصطلق واقع شوه دېته المریسیع هم ویل کیږي کله چې رسول الله ﷺ ته خبر راغلو چې بني مصطلق د مسلمانانو د جنګ لپاره جنګیالي تیاروي رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره ورپسې ورغلو جنګ وشو مسلمانانو ددوی نه کسان ووژل یو څه یې ترې ژوندي راوستل او غنیمتونه یې ترې ونیول .

رسول الله ﷺ د برة بنت الحارث سره

واده وکولو چې د قوم د مشر لور وه او بیا یې جویریة نوم ورباندې کېښود او د بني المصطلق د خلکو په اسلام کې ددې خبرې لوی تاثیر وو .

غزوة الخندق واقع شوه دېته غزوة الاحزاب هم ویل کیږي د مکې مشرکین او د ټولو عربو مشرکین را ټول شول ، د مدینې منورې یهود بني النضیر او بني قریظة ورسره شول پدې توګه لس زره جنګیالي برابر شول ابو سفیان یې مشري کوله مسلمانانو په هغه لاره کې خندق و کیندلو چې له کومې خوا نه به دوی په مدینه منوره باندې راتلل او دهغه خندق سره مسلمانان هم ورته کېناستل پنځلس ورځې یې مدینه منوره محاصره کړې وه بیا الله تعالی ورباندې طوفان باد او داسې غیبي فوځونه را

نازل کړل چې دوی ته نه ښکاره کېدل بېرته په منډه منډه و تښتېدل ډېر سامانونه او شیان ترېنه پاتې شول چې مسلمانانو ته غنیمت شول .

غزوة بني قریظة هم په همدې کال کې واقع شوه کله چې د خندق په غزوة کې معلومه شوه چې د بني قریظة یهودو هم جنګیالي د مشرکینو په صفونو کې لېږلي وو چې د مسلمانانو سره جنګ وکوي نو رسو ل الله ﷺ چې د خندق د غزا نه را وګرځېدو د ۳۰۰۰ کسانو مجاهدینو سره په دوی پسې ور ووتلو او د دوی کورونه یې محاصره کړل بالآخره دوی تسلیم شول او محاصره د حضرت سعد ابن معاذ ❽ په فیصله باندې پای ته ورسېده .

سریة عبد الرحمن بن عوف هم په همدې

کال کې واقع شوه چې دومة الجندل ته يې لېږلې وه او د همدې قبيلې سردار او ډېر نور خلک په اسلام مشرف شول .
سرية زيد بن حارثة هم په همدې کال کې وه د حضرت زيد بن حارثة په مشرۍ کې ځو کسانو د قريشو د تجارتي قافلې لاره ونيوله او څه چې پکې وو هغه يې ونيول او څه کسان يې هم له ځان سره بنديان بوتلل .
سرية سعد بن زيد هم پدې کال کې وه ځو کسان چې د اسلام نه وروسته بېرته کافران شول د رسول الله ﷺ د مال څرونکی شپونکی يې قتل کړو او د رسول الله ﷺ مال يې له ځان سره بوتلو نو ددوی په لټون کې رسول الله ﷺ صحابه لېږلي وو .
حجاب او پرده فرض شوه .

د هجرت شپږم کال

غزوة بني لحيان : بني لحيان هغه کسان وو چې حضرت عاصم بن ثابت او دهغه ورونه يې قتل کړي وو رسول الله ﷺ پسې ووتلو لکن په لاس ورنغلل .

غزوة الغابة پدې غزوه کې رسول الله ﷺ د عينة بن حصن او دهغه د ملګرو په طلب کې ووتلو ځکه دوی د مسلمانانو په مالونو باندې تېری کړی وو او له ځان سره يې وړي وو او يو مسلمان يې شهيد کړی وو .

غزوة الحديبية پدې کې رسول الله ﷺ د قريشو د خلکو سره مخامخ شو لکن پدې واقعه کې جنګ ونشو بلکه د مکې د مشرکينو او رسول الله ﷺ په مينځ کې يوه صلح وشوه چې صلح حديبية ورته

ویل کیږي .

بیعة الرضوان هغه وخت د رسول الله ☸ او صحابه وو په مینځ کې تړون وشو کله چې د حضرت عثمان ❽ چې مشرکینو نیولی وو د مرګ اوازه خپره شوه نو صحابه وو د رسول الله ☸ سره بیعت وکولو چې دوی به ترمرګه پورې هم نه تښتي کله چې د مکې مشرکین ددې تړون نه خبر شول حضرت عثمان ❽ یې پرېښودو .

په همدې کال کې رسول الله ☸ بادشاهانو ته خطونه لیږل شروع کړل او هغوی یې اسلام ته را وغوښتل .

د هجرت اوم کال

غزوة خیبر پدې واقعه کې رسول الله ﷺ د خیبر د یهودو کورونه محاصره کړل او هغه یې فتح کړل .

په همدې کال کې یوې یهودي ښځې د پسه په غوښه کې د زهرو په اچولو سره د رسول الله ﷺ د وژنې دسیسه جوړه او عملي کړه لکن په رسول الله ﷺ یې تاثیر ونه کولو او هغه کسان چې د رسول الله ﷺ سره یې ډوډۍ خوړلې وه ووژل شول

د حبشې نه د مهاجرو د لس کلونو تېرولو نه وروسته را وګرځېدل .

د خیبر سره نېږدې فدک نومې ځای فتح کېدل او دهغه ځای د یهودو سره دمسلمانانو تعهد او تړون کول .

د اهل تیماء په یهودو باندې جزیه مقرر کول او د جزیې په بدل کې دوی ته امن ورکول .
غزوة وادي القری هغه وخت واقع شوه چې رسول الله ﷺ د وادي القراء خلک اسلام ته را وغوښتل او هغوی انکار وکولو او د مسلمانانو سره جنګ ته تیارشول رسول الله ﷺ ورسره جنګ وکولو او مسلمانان وربانديې کامیاب شول
عمرة القضاء د رسول الله ﷺ یوه عمره وه په همدې کال کې وشوه .
خالد بن ولید، عمرو بن العاص او عثمان بن طلحة رضی الله تعالی عنهم په همدې کال کې مسلمانان شول .
رسول الله ﷺ په همدې کال کې د صفیة بنت حیی بن الاخطب سره واده وکولو پلار يې د بني النضیر سردار وو .

په همدې کال کې رسول الله ﷺ د میمونة بنت الحارث سره واده وکولو او دا یې آخري بي بي وه چې رسول الله ﷺ ورسره واده وکولو .

د هجرت آتم کال

سریة موتة هغه وخت مینځ ته راغله چې رومیانو د رسول الله ﷺ استاذی ووژلو نو رسول الله ﷺ دری زره مجاهدین د رومیانو مقابل ته ور ولیږل او پدې وخت کې رومیان تر یو لک کسانو نه زیات وو مسلمان په پوره میړانه سره جنګ ته ورانندې شول د مسلمانانو دری امیران حضرت زید بن حارثه، جعفر بن ابي طالب او عبد الله بن رواحة په شهادت ورسېدل بیا مشري د خالد بن ولید په حواله شوه

هغه په خپل مهارت سره د يو طرف صحابه بل طرف ته د بل طرف صحابه بل طرف ته بدل كړل روميانو فكر وكاوه چې مسلمانانو ته نوي تازه دم جنګيالي راغلل دهغوی په زړه كې ماته ور ګډه شوه و تښتېدل ، د مسلمانانو سره الهي مرسته ملګرې شوه ۳۰۰۰ كسانو يو لک كسانو ته شرموونكې ماتې وركړه .

د مكې فتح هغه وخت واقع شوه چې قريشو د صلح حديبې د شرطونو څخه يو شرط مات كړو رسول الله ﷺ د خپلو مجاهدينو سره ملګرى شو او په مكه مكرمه باندې د فاتحينو په ډول را ننوتل او پدې وخت كې لس زره مجاهدينو د رسول الله ﷺ ملګرتيا كوله .

ابو سفيان بن حرب ، كعب بن زهير او ډله كسان مسلمانان شول .
په مكه كې چې څومره كسان وو چې د رسول الله ﷺ سره يې څه قسم ظلمونه كړي وو هغوی ته عفو اعلان شوه .
غزوة حنين په همدې كال كې واقع شوه د دوو قبيلو ثقيف او هوازن خلك را ټول شوي وو په مسلمانانو يې حمله كول غوښتل رسول الله ﷺ په دوی پسې د ۱۲۰۰۰ مجاهدينو سره ور ووتلو ځينې مجاهدين خپل كثرت ته خوشحال شول او ويې ويل نن به مونږ د كم عدد له امله ماتې نه خورو نو د جنګ په شروع كې يې ماتې وخوړه د رسو ل الله ﷺ سره يو څو كسان مجاهدين پاتې شول ا و هغوی په پوره مېړانه سره و جنګېدل او د جنګ په پای كې كفارو ماتې

وخوړه .

د لويې قبيلې هوازن ځنې په همدې كال كې رسول الله ﷺ ته وفدونه راغلل .

په همدې كال كې رسول الله ﷺ بېرته مدينې منورې ته ستون شو .

د هجرت نهم كال

په همدې كال كې حج فرض شو .

سرية علي بن ابي طالب په همدې كال كې وه رسول الله ﷺ حضرت علي رضي الله عنه د څه صحابه وو سره ولېږلو چې د جهالت د دور نه يو بت تر اوسه پورې پاتې وو د فلس په نوم هغه يې مات كړو او وې سوزولو او د هغه عبادت كونكي يې ووژل .

عدي ابن حاتم مسلمان شو .

غزوة تبوك هم په همدې كال كې وه

پدې غزوه کې رسول الله ﷺ د ۳۰۰۰۰ کسانو مجاهدینو سره په رومیانو پسې وروسته ددې ور ووتلو چې مسلمانانو ته خبر را ورسېدو چې هغوی په شام کې د مسلمانانو د جنګ لپاره تیاري کوي ترڅو چې مجاهدین هلته رسېدل نو رومیان پخوا له هغې نه تښتېدلي وو .

د تمیم او ثقیف قبیلو وفدونه هم مسلمانانو ته پدې کال کې راغلل .

د طائف اهل ته د رسول الله ﷺ خط لېږل او په طائف کې د ثقیف بت ړنګول .

د منافقینو د مشر عبد الله بن ابی بن سلول مرګ

د رسول الله ﷺ د مبارکې لور او د حضرت عثمان ؓ د مېرمن حضرت ام کلثوم وفات .

په همدې کال کې رسول الله ﷺ حضرت ابو

بکر صديق 8 ته امر وکولو چې په خلکو باندې حج وکوي.

د سورت توبې نازلېدل او دا حکم راتلل چې مشرکين نجس دي دوی دې نور مسجد حرام ته نه ننوزي .

د هجرت لسم کال

د حضرت علي 8 په مشرۍ کې څه کسان يمن ته ولېږل شول چې هغوی اسلام ته راوغواړي لکن په اول کې هغوی انکار وکولو چې د مسلمانانو سره په جنګ کې مخامخ شول نو يې ماتې وخوړه بيا د اسلام راوړلو ته رضا شول او مشرانو يې د حضرت علي 8 سره بيعت وکولو .

حضرت معاذ بن جبل او ابو موسی الاشعري يمن ته ولېږل شول چې خلکو ته اسلام او د شريعت احکام ور وښيي .

حجة الوداع (د خدای په اماني حج)

هم په همدې کال کې وو رسول الله ﷺ د یو لکو نه زیاتو مسلمانانو سره حج وکولو او په خپلو خبرو کې یې اشارې وکولې چې دده ﷺ د وفات وخت را نیږدې شوی دی او اشاره یې وکوله چې دین اوس مکمل شو، نعمت اوس پوره شو.

حضرت ابراهیم در سول الله ﷺ زوی په همدې کال کې وفات شو.

د هجرت يولسم کال

په نورو کلونو کې به رسول الله ﷺ په رمضان کې لس ورځې اعتکاف کولو او پدې کال کې يې شل ورځې اعتکاف وکولو په نورو کلونو کې به جبرائيل عليه السلام قران کريم يو ځل ورته آورولو لکن پدې کال کې يې دوه ځلې ورته واورولو دا دواړه بدلونونه يو څه ته اشاره وه ...

په مسند امام احمد ابن حنبل کې د معاذ ابن جبل نه روايت دى چې رسول الله ﷺ دى د يمن په طرف په سفر باندې رخصت کولو پداسې حالت کې چې معاذ ❽ په آس سپور وو او رسول الله ﷺ په

مبارکو پښو باندې ورسره روان وو نصیحت یې ورته وکولو او ورته یې وویل : معاذه کیدای شي ددې کال نه وروسته ته بیا لما سره ملاقات ونشي کولی کېدای شي ته بیا زما په دې جومات او زما په قبر باندې تېر شي ... حضرت معاذ 8 سخت وژړل .

د هجرت په لسم کال په حجة الوداع کې رسول الله ﷺ بیا بیا ویل زما څخه دحج مسائل او مناسک زده کړئ زما څخه واورئ کېدای شي ددې کال نه وروسته بیا زه لتاسې سره مخامخ نه شم .

د امام مسلم د روایت له مخې رسول الله ﷺ فرمایل زما د په هغه ذات قسم وي چې د محمد نفس یې په اختیار کې دی

په تاسې کې به په چا باندې داسې وخت راشي چې هغه به بيا ما ونه ويني او دا به خوښوي چې زما ديدن ورته د مال او اهل په بدل هم شوی وی .

د رسول الله ﷺ تره حضرت عباس بن عبد المطلب ورته راغلو ويل يې يا رسول الله ﷺ خوب مې ليدو چې زمکه د اسمان خواته ور جذب کيږي ... رسول الله ﷺ ورته ويل دا ستا د وراره مرګ دی (خپل ځان يې ورته ښودلو)

د هجرت د يولسم کال د صفر په آخر کې رسول الله ﷺ د شپې په تياره کې د بقيع خواته لاړو د رسول الله ﷺ ازاد کړل شوی غلام حضرت ابو مويهبة 8 فرمايي رسول

الله ﷺ ما ته وويل : ما ته حکم شوی چې د بقيع د خلکو لپاره (کوم چې هلته دفن دي) بښنه وغواړم راځه ته هم راسره لاړ شه .. زه ورسره ولاړم چې هلته ورسېدو نو رسول الله ﷺ و فرمايل :

پرتاسې دې سلام وي تاسې ته د اسانه شي هغه چې تاسې پکې ياست تر هغه څه نه چې خلک پکې دي کاش تاسې خبر وی چې الله ﷺ تاسې ته له هغه نه نجات درکړی دی فتنې دنيا ته داسې راغلې دي لکه د تورې شپې تيارې يو په بله پسې راځي چې هره وروستنۍ يې له مخکنۍ نه بده ده بيا يې ماته مخ را واړاوه راته يې وويل : ای ابو مويهبة ! الله تعالی ماته ددنيا د خزانو کلياني او په دنيا کې پاتې

کېدل او بیا په آخر کې جنت راکړو لکن ددې په ځای ما د الله ① سره ملاقات او جنت خوښ کړو ..

ما ورته و فرمایل : مور پلار مې تا نه زار شه خو ددنیا کلیانې او په دنیا کې همېشه پاتې کیدل بیا جنت واخله ..

ده ﷺ و فرمایل نه زما د قسم وي ابا مویهبة ما د الله ملاقات او جنت خوښ کړو بیا یې د بقیع د مرحومانو لپاره دعا وغوښته .

د هجرت په ۱۱ کال د صفر په ۲۹ یې په یوه جنازه کې شرکت وکولو په سر یې درد شو کور ته چې لاړو د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها هم په سر درد وو کله چې رسول الله ﷺ کور ته ننوت حضرت

عائشې رضی الله تعالی عنها وویل وای سر مې ... رسول الله ﷺ وویل وای زما سر ... په سر یې درد سخت او ورسره تبه یې شوه چې داسې حرارت وو پکې چې کوم شی به یې پرې اچولي وو دهغې د پاسه حرارت محسوس کېدو .

د ورځو په تېرېدو سره یې بیماري په زیاتېدو وه خو رسول الله ﷺ کوښښ کاوه چې ترڅو پورې کېدای شي مونځ د صحابه وو سره په جومات کې وکوي او جومات ته به راوتلو او بیا به بېرته کورته تللو پدې وخت کې ټولو بیبیانو ورته اجازه وکوله چې دی ﷺ دې د بیمارۍ شپې د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها په حجره کې تېرې کړي نو د ژوند آخري هفته یې ټوله دهغې مبارکې رضی الله تعالی عنها په حجره کې تېره کړه

د ربيع الاول په اومه نېټه د
چهارشنبې په ورځ يې بيماري سخته وه
بدن مبارک يې زيات ګرم وو او سر درد
يې هم زيات وو ويل يې په ما باندې
اوبه واچوئ چې زه مانځه ته لاړ شم
دوی کېنولو او اوبه يې پرې واچولې
تردې چې رسول الله ﷺ وويل بس بس ..
بيا را پاڅېدو په توره همسا يې تکيه
کوله د حضرت علي او حضرت عباس رضی
الله تعالی عنهما په مينځ کې راروان وو
او په دوی يې تکيه کړې وه او پښې يې
پسې را کښل کېدلې را يې وستلو او په
منبر يې کښېنولو خلک ورته شاوخوا ته
را ټول شول رسول الله ﷺ ورته خبرې
شروع کړې ورته يې وويل :

السلام عليکم ورحمة الله و برکاته :

په يهودو او نصارا وو دې د الله لعنت وي دوی د خپلو پيغمبرانو قبرونه مسجدونه کړل ای الله ① ته زما د قبر نه بت مه جوړوه چې عبادت يې وشي ، ای خلکو زه د خپل رب سره ملاقات کونکی يم او زه به هغه څه ورته ووايم چې تاسې لما سره منلي دي ، ای خلکو که ما چاته ښکنځل کړي يا مې رټلي وي يا مې يې مال خوړلی وي نو مخکې ددېنه چې داسې وخت راشي چې هلته نه درهم وي او نه دينار لما څخه دې اوس بدله واخلي ای خلکو که ما څوک په شا باندې په ډُره وهلي وي اوس دا زما شا حاضره ده خپل بدل د واخلي .. حضرت انس 8 عنه فرمايي پدې وخت کې ما ټولو خلکو ته کتل چې سرونه يې په زنګنونو باندې اېښودي

وو او ژړل يې او فرمايل يې : زمونږ مور پلار لتانه قربان شه اى رسول الله ﷺ....بيا را ښكته شو د ماسپښين مونځ يې وكولو بيا منبر ته وختلو و يې فرمايل : اى خلكو زه تاسې ته د انصارو په هكله نصيحت كوم دوى زما د راز او نياز خلک دي په دوى چې كوم شى لازم وو دوى پوره كړي دي او هغه څه پاتې دي چې ددوى لپاره دي دوى كه له چا سره نيكي كوي نو نيكي ترې قبلوئ او كه څه بد ترې كيږي هغه ورته معاف كوئ اى خلكو يو انسان ته الله ۞ اختيار وركړو چې ددنيا تازګي او عيش غواړي او كه هغه څه غواړي چې د الله ۞ سره دي نو دې بنده هغه څه غوره كړل چې له الله ۞ سره دي .

د حضرت ابو بكر صديق ❽ د ژړا اواز

را پورته شو ویل یې مور او پلار مو لتا قربان شه ای رسول الله ابو سعید الخدري 8 فرمایي په هغه ځای کې مونږ د حضرت ابو بکر صدیق 8 ژړا ته حیران پاتې شوو (چې پدې خبره ده ولې وژړل) بیا وروسته مونږ پوه شوو چې دا بنده خو رسول الله ﷺ پخپله وو . ددې ورځې په سبا د پنجشنبې په ورځ یې بیماري نوره هم سخته وه د ماښام مونځ یې وکولو والمرسلات عرفاً سورت یې پکې وویلو د ماسخوتن مانځه ته یې د راوتلو اراده وکوله پنځه ځله یې ځان وتلو ته برابر کړو لکن بیا به بې هوښه شو سترګې به یې راپورته کړې پوښتنه به یې کوله : خلکو مونځ کړی دی؟ بیا به دوی ورته وویل نه ! ستا انتظار کوي چې په پنځم ځل هم په

وتلو قادر نه شو نو يې وويل ابو بكر
صديق ❽ ته وواياست چې په خلكو
باندې مونځ وكوي حضرت عائشې رضی الله
تعالی عنها ورته و فرمايل : هغه كه
ستا په ځای ودريږي كېدای شي خپل ځان
به په واك كې ونشي ساتلی خو رسول
الله ☸ بيا امر وكولو چې ابو بكر دې
په خلكو باندې مونځ وكوي .
د شنبې په ورځ يې بيا زړه د جومات
نه بغير صبر ونه كولو د ماسپښين
مانځه ته په داسې وخت كې را ووتلو
چې خلك په مانځه ولاړ وو كله چې دی
☸ را ورسېدو حضرت ابو بكر صديق ❽
غوښتل چې له محراب نه را وروسته شي
لكن ده ☸ ورته اشاره وكوله چې مه
را وروسته كېږه دا مونځ يې هم په
جومات كې وكولو او بېرته كور ته را

ستون شو بیماري يې سخته وه ، بدن يې سخت ګرم وو ، حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمايي ما څوک ندي ليدلي چې د رسول الله ﷺ نه يې سخت درد او تکليف وي .

د ربيع الاول په ۱۱مه د يکشنبې په ورځ يې خپل غلامان ازاد کړل اوه ديناره يې درلودل هغه يې خيرات کړل خپله اسلحه يې مسلمانانو ته تحفه کړه ، د شپې چې د چراغ د لګېدلې ساتلو ضرورت شو حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها تېل د ګاونډۍ نه راواخستل ، او په دې وخت کې يې يوه زغره د يو يهودي سره د دېرشو پيمانو وربشو په بدل کې ګانه وه .

د دوشنبې په ورځ يې د سهار په وخت کې جومات ته په داسې وخت کې راوکتل

چې مسلمانان په مانځه ولاړ وو مخ يې داسې را ښکاره شوو لکه د قران کريم صفحه ځلېدو او موسکی وو ابو بکر صديق 8 فکر وکاوه چې مانځه ته راتلل غواړي غوښتل يې چې را وروسته شي حضرت انس 8 فرمايي مسلمانان ټول زيات خوشحال شول فکر يې وکاوه چې د رسول الله ﷺ صحت ښه شوی دی لکن ده ﷺ په لاس اشاره وکوله چې خپل مونځ وکوئ او بېرته يې د کړکۍ پرده را پرېښوده او ارام يې وکولو .

د ځانښت په وخت کې حضرت فاطمه رضی الله تعالی عنها ورته راغله چې سخت يې ژړل لکن رسول الله ﷺ دا خوشحاله کړه ورته يې وويل چې زما د اهل نه به ته اول په ما پسې راځې او ته به په جنت کې د ښځو مشره او سيده وې .

ددېنه وروسته ئې حضرت حسن او حسين رضى الله تعالى عنهما را وغوښتل دواړه يې مچې کړل او ويې وفرمايل چې دوى خفه نه کړئ او ددوى سره به ښه رويه کوئ .

درد يې زيات شو هغه زهر چې يوې يهودې ښځې په خيبر کې د پسه په غوښه کې ورکړي وو دهغې اثر پرې را ښکاره شو ويل يې اى عائشې دهغه خوراک خوند مې په خوله کې دى چې په خيبر کې مې خوړلى وو (ددې امله علماء کرام فرمايي چې رسول الله ﷺ شهيد شوى دى) په خوا کې يې د اوبو لوښى ايښى وو رسول الله ﷺ به لاس پکې غوټه کړو بيا به يې په مخ مبارک را کش کولو ويل به يې **"لا إله إلا الله إن للموت لسكرات"** حضرت عائشې رضى الله تعالى عنها ځان خواته

تکیه کړو اسامه بن زید 8 چې ده ﷺ
ورته د لمسي مینه ورکوله پدې وخت کې
را ننوت رسول الله ﷺ خبرې نشواى کولى
لاس به يې اسمان طرف ته پورته کړل
بیا به يې په ده 8 باندې کېښودل
معلومېده چې دعا ورته کوي .
حضرت عبد الرحمن بن ابي بکر (د
حضرت عائشې رضى الله تعالى عنها ورور)
را ننوت دحالت پوښتنه يې کوله په لاس
کې يې مسواک وو رسول الله ﷺ هغه ته
وکتل حضرت عائشه رضى الله تعالى عنها
فرمايي زه پوه شوم چې مسواک غواړي
ما د عبد الرحمن نه مسواک واخستو
بیا مې په خپله خوله کې ښه نرم کړو
په غاښونو مې و چیچلو او لوند مې
کړو بیا مې رسول الله ﷺ ته په لاس
ورکړو هغه په ټوله خوله کې په ښه

طريقه مسواک ووهلو او په توله خوله کې يې را تاو کړو ترڅو د الله ① حضور ته په پاکه خوله سره ورشي کله چې د مسواک نه فارغ شو پورته چت ته يې وکتل او شونډې مبارکې يې وښورولې ما غوږ ور نيږدې کړو ده ﷺ فرمايل :

"مع الذين أنعمت عليهم من النبيين والصدّيقين، والشهداء والصالحين، اللهم اغفر لي وارحمني، وألحقني بالرفيق الأعلى، اللهم الرفيق الأعلى، اللهم الرفيق الأعلى، اللهم الرفيق الأعلى"

بيا يې خپل لاس مبارک وغزولو او د دنيا نه يې سترګې پټې کړې د دوشنبې ورځ د هجرت يولسم کال د ربيع الاول دولسمه نېټه وه پدې وخت کې د رسول الله ﷺ عمر ٦٣ کاله او څلور ورځې جوړېدو .

د رسول الله ﷺ د رحلت خبر په مدينه منوره کې خپور شو خلک ډلې ډلې راغلل د جوماتـ او د حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها د حجرې خوا ته.

داسې ډېر کسان وو چې ددې غم تحمل یې ونشو کولی حضرت ابن حاجب رحمه الله فرمايي داسې خلک هم وو چې دې غم وربانديې تاثير وکولو بيا دهغه نه وروسته يې خبرې ونشوای کولی دچا دماغو کار پرېښودو بيا يې لکه د لېونيو داسې حرکت کولو حضرت عمر ❽ خبر شو هغه را ووت او ويل يې منافقينو اوازه اچولې ده چې رسول الله وفات شوی دی چې څوک دا خبره کوي زه يې وژنم حضرت ابو بکر صديق چې خبر شو سيده را روان وو د خپلې لور (حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها

کوټي ته او له هېڅ سره یې خبرې نه کولې رسول الله ﷺ یې ولیدو چې په یوه جامه کې نغښتی وو جامه یې ترې پورته کړه او ښکل یې کړو ورته یې وویل زما مور او پلار تا نه قربان شه ته دوه ځله نه مړ کېږې دا یو مرګ چې په تا باندې وو ته په هغه مرګ مړ شوې بېرته خلکو ته را ووتلو پدې وخت کې خلکو ته حضرت عمر ؓ خبرې کولې ده ؓ ده حضرت عمر ؓ نه وغوښتل چې چپ شي ده ته د خبرو موقع ورکړي لکن حضرت عمر ؓ چې په جذباتو کې وو خپلې خبرې یې بس نه کړې کله چې دی ودرېدو نو خلکو دده خواته توجه وکوله ده خپلې خبرې شروع کړې او ویې فرمایل :

ﷺ چا چې د محمد ﷺ عبادت کولو نو هغه ﷺ

وفات شو او که څوک د الله عبادت کوي هغه حیی لا یموت دی بیا يې آیت تلاوت کړو :

"مَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئاً وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ"

ترجمه : ندی محمد مګر صرف رسول دی او دده نه مخکې هم رسولان تېر شوي دي که هغه چېرته مړ شي یا ووژل شي نو تاسې به بېرته په شا باندې ګرځئ ... او هغه کسان چې بېرته وګرځي الله ① ته هېڅ ډول ضرر نشي رسولی الله تعالی به شکر کونکو ته اجر ورکړي .

اوس خلک د خبر په اصلي حقیقت باندې پوه شول حضرت عمر ❽ هم اوس پوه شو چې حقیقت څه دی پښو یې د درېدلو وس نه درلود په زمکه را وغورځېد د خلکو

د ژړا اواز پورته شو او ټولو پورتنی آیت تلاوت کولو .

د دوی ټولو ژړا په ځای وه اوس د دنیا نه هغه هستي لاړه چې نه مخکې دنیا ته راغلې وه او نه به وروسته راشي الله ① زمونږ له لوري نه پرې لا یتناهي درود او سلام نازل کړي .

مــا خـذ و نـــه

1-التاريخ الإسلامي مواقف وعبر، د. عبد العزيز الحميدي، دار الدعوة، الإسكندرية.

2- السيرة النبوية دروس وعبر، د. مصطفى السباعي، المكتب الإسلامي، بيروت، لبنان، الطبعة التاسعة، 1406هـ - 1986م.

3- السيرة النبوية، لأبي محمد بن عبد الملك بن هشام، دار الفكر.

4- السيرة النبوية عرض حقائق وتحليل أحداث ,د.على محمد الصلابي الطبعة الأولى.

5- السيرة النبوية الصحيحة، د. أكرم العمري، الطبعة الأولى 1412هـ/ 1992م، مكتبة العلوم والحكم بالمدينة المنورة.

6-السيرة النبوية في ضوء المصادر الأصيلة:الدكتور مهدي رزق الله أحمد ط1-1412هـ مكتبة الملك فيصل.

7- السيرة النبوية مواقف وعبر :الدكتور عبد العزيز بن عبد الله الحميدي ط2 دار الدعوة .

8-القيادة العسكرية في عهد الرسول صلى الله عليه وسلم ، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

9- تفسير القرطبي، لأبي عبد الله القرطبي، دار إحياء التراث العربي، بيروت، لبنان، 1965م.

10- سير أعلام النبلاء: شمس الدين الذهبي، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى، 1403

11- صور وعبر من الجهاد النبوي في المدينة، تأليف: د. محمد فوزي فيض الله، دار القلم، دمشق، الدار الشامية، بيروت، الطبعة الأولى، 1419هـ- 1996م.

12- صحيح السيرة النبوية، إبراهيم العلي، دار النفائس، الطبعة الثالثة، 1408هـ -1998م.

13- صحيح البخاري، محمد إسماعيل البخاري، دار الفكر، الطبعة الأولى، 1411هـ - 1991م.

14- على خطى الحبيب :عمرو خالد

17- فقه السيرة النبوية :الدكتور محمد سعيد رمضان البوطي ط11 1991م

18- من معين السيرة، صالح أحمد الشامي، المكتب الإسلامي، الطبعة الثانية، 1413هـ- 1992م.

19- فقه السيرة النبوية، منير الغضبان، معهد البحوث العلمية وإحياء التراث مكة المكرمة.

20- شرح النووي على صحيح مسلم للإمام النووي المتوفى 676هـ – طبع المطبعة المصرية ومكتبتها – القاهرة عام 1347هـ.

21-البداية والنهاية، أبو الفداء ابن كثير الدمشقي. دار الريان للتراث.

22- غزوة بدر الكبرى الحاسمة، محمود خطاب.

23–غزوة بدر الكبرى، محمد أبو فارس، دار الفرقان، الطبعة الأولى، 1402هـ–1982م.

24– غزوة بدر الكبرى، محمد أحمد باشميل، طبعة دار الفكر، الطبعة السادسة، سنة 1394هـ

25–فتح الباري، ابن حجر العسقلاني، دار المعرفة، بيروت، لبنان.

26– الدر المنثور في التفسير بالمأثور، الإمام السيوطي، الناشر محمد أمين دمج، بيروت، لبنان.

27–زاد المعاد في هدي خير العباد، أبو عبد الله ابن القيم حققه: شعيب الأرناؤوط وعبد القادر، الطبعة الأولى، 1399هـ، دار الرسالة.

28–السيرة النبوية في ضوء القرآن والسنة، محمد أبو شهبة، دار القلم، دمشق، الطبعة الثالثة، 1417هـ – 1996م.

٢٩–المستفاد من قصص القرآن للدعوة والدعاة، عبد الكريم زيدان، مؤسسة

الرسالة، الطبعة الأولى، **1418**هـ- **1997**م.

3٠- طبقات ابن سعد الكبرى، محمد بن سعد الزهري، دار صادر، ودار بيروت للطباعة والنشر، 1376هـ- 1957م.

3١- المغازي للواقدي، محمد عمر بن واقد المتوفي 207هـ، تحقيق د. مارسدن جونس، عالم الكتب، بيروت، الطبعة الثالثة، 1404هـ- 1984م

3٢- القيادة العسكرية في عهد الرسول صلى الله عليه وسلم، دار القلم، الطبعة الأولى، 1410هـ- 1990م.

3٣- إمتاع الأسماع بما للرسول من الأبناء والأموال والحفدة والمتاع، للشيخ أحمد المقريزي، صححه وشرحه محمود محمد شاكر، مطبعة لجنة التأليف والترجمة بالقاهرة 1941م.

Dedication

With love and sincerity I dedicate this book that contains biography, ethics, cognition of prophet of Allah ☸**,** to the whole Islamic nation as a response to the disrespect of prophet Muhammad ☸ with an insulting film,

Dr. Kifayatullah Wardak